



# انجنیر عبدالقادر « مسعود »

د نشر نیټه : 14 اکتوبر 2016 م

## د ادب او فرهنګ په ډګر کې د هوډمن لیکوال او ویناوال، ژمن شاعر او تکړه ژباړونکي ښاغلي نجم الرحمن « مواج » سره ادبي مرکه :



د ادب او فرهنګ درنو مینه والو د تیرو مرکو په څیر دا ځل تا سو ته یو داسې هڅاند او تکړه لیکوال، شاعر او ژباړونکی درپیژنو، چې د خپلو کتور و آثارو او څواکمن قلم او فکر له لارې یې د علم او ادب ډیوې روښانه او ځلاند ساتلی دي . دا پیژندل شوې څیره وطنپال او منلی شخصیت ښاغلی نجم الرحمن « مواج» دی.

نجم الرحمن « مواج » د قا ضی علی احمد زوی دی، چې پر (۱۳۲۵) لمریزکا ل د وري پر(۱۲) مه د ننګرها ر ولایت د سره رود په ولسوالی د با غوانی په کلي کي زیږیدلای د ی. ده د پښتو، د ری او عربی دینی کتا بونو لوست په کورکی له خپل عالم پلار، او د خپل وړور عزیزا لرحمن « ممنو ن » او مشری خور( و ږمه) څخه تر لاسه کړیدي، او خپلې لومړنی زده کړې یې د استقلا ل په لیسی کی سرته رسولی دي.

لوړې زده کړې یې د کا بل پوهنتو ن د اقتصا د په پوهنځی کې د لیسا نس په د رجه بشپړې کړې دي.

ارواښاد علامه محمود طرزي وایي :

( یو اولس په ژبه او ژبه په ادبیاتو ژوندی پاتی کیږي .... )

د علامه صاحب د دې خبرو پر لاسوند، په ربښتیا سره چې ژبه او ادب د هر ملت یوه لویه شتمني ده، او ډیر ګټور او ارزښتمن میراث دی، چې باید زموږ هیواد وال د یو ښکلي او لاربښوونکي هنري اثر په توګه لکه یو غوړیدلی او زرغون بڼ ورته همیشنی پاملرنه وکړي، تازه او ښیرازه یې وساتي.

په دې کې شک نه شته چې په هره ژبه کې ژباړه په علمي، ادبي، سیاسي، ټولنیزو چارو او همداسي په نورو پوهنیزو برخوکي خپل ځانګړی اغیز لري. د نورو ژبو د اثارو ژباړه په پښتو او د پښتو د ژبې د اثارو ژباړه په نورو ژبو کې د پښتو د ژبې د ودې، پرمختګ او پراختیا لپاره یو اړین ګام دی چې باید تر سره شي.

ښاغلي مواج صاحب د خپلو لیکل شویو آثارو ترڅنګ د یو شمیر بهرنیو لیکوالو او زموږ دهیواد د پیژندل شویوعلمي او ادبي ستو آثار هم ژباړلي دي، چې د نوموړي دا هلې ځلې د خورا ستاینې وړه دي.

ښاغلی ډاکټر ببرک ارغند چې زموږ د هیواد په علمي او ادبي ډګر کې یو څواکمن او غښتلی لیکوال، نامتو ژورنالیست، پیاوړي او تکړه داستان لیکونکی، د علم ، ادب او فرهنګ غوره ویناوال، ملي ستنه او سیاست پوه دی، په خپله یوه لیکنه کې د مواج صاحب په اړه داسي کښلي دي :

(( نیم قرن خاطره

باجناب نجم الرحمان « مواج » از سالیان خیلیها پیش آشنایی دارم. اگر بگویم نیم قرن میشود ، بدون شک نادرست نگفته ام . آشنایی ما سر بدوران استبداد شاهی میزند. به زمانی که ما هنوز خیلی جوان ودر سیاست بی تجربه بودیم و دَور، دَورِجوشش صورتها و بصدا درآمدن ناقوسها بود. اگر بخواهم شخصیت برازندهٔ این دانشمند گران قدر را در یک جمله بیان دارم ( که کاری خیلی سخت و دشوار و غیر کافی است) .

میتوان گفت که جناب مواج یک انسان کامل و در همه حال «خود آگاه» است . او خود را همانگونه که هست ، با انصاف تمام ، ارزیابی میکندو آثارش را در کمال عشق به دوستداران ادبیات عرضه میدارد . نه بیشتر و نه کمتر و برتری ها و کهتریهای خود را به نیکی میشناسد . وبا این خود آگاهی است که پیوسته پویا و پویاتر میشود.

ایشان درعصر میزیید که یاسایی های ویژهٔ خود را دارد. عصر وی، عصر مبارزه با پلیدیها و پلشتیهاست . عصر مبارزه و رویارویی با استبداد وخودکامه گیهاست . عصر تلاش بخاطر آزادی و دیموکراسی و داد خواهیست . عصر مبارزه بخاطر انسان سالاری و اشاعهٔ دانش و فرهنگ نوین و رستگاری توده های ملیونی وطن ماست .

جناب نجم الرحمان « مواج » در عصری زنده گی میکند که نظام های استیلاگر جهادی و سرمایه ، دروغگویی ، تسلیم طلبی وبا هربهار زیستن را پخش و ترویج میکنند . انسانها را بخاط منافع خویش ازهم پارچه مینمایند و میان اقوام و زبانها و کلچر ها خط اندازی میکنند و هر کدام را تک تک زیر فرمان خویش در می آورند تا سود بیشتر بردارند . وی در عصری زنده گی میکند که نبود همبسته گیهای بشری و سنگینی پاشنه های زور مندان و زرمندان عقلها را به بیراهه میراند.

اما جناب نجم الرحمن «مواج » این دانشمند فرهیخته و شاعر شیرین کلام و مبارز نستوه با هرموجی که آمده با قدم و قلم خویش با آن مردانه در آویخته و آن را پیروزمندانه پشت سر گذاشته است .
مواج شاعر است . مترجم است . پژوهشگر است به ویژه در گسترۀ برگردانی ید طولا دارد و یکی از نو آوریهایش در عرصۀ ترجمه ، برگردان شعر به شعر است که به گمان غالب تا کنون کمتر قلمی در این عرصه بکار رفته است . ترجمه یا برگردان به معنی انتقال یک مفهوم ویا پیام و یا نوشته یی از یک زبان به زبان دیگر است ومترجم باید برهردو زبانهای بکار رفته حاکمیت داشته باشد تا کارش سچه و امانت داریش فرهیخته باشد .
ایشان به زبانهای انگلیسی ، روسی بلدیت و آشنایی دارند اما برزبانهای پشتو ودری حاکمیت عام وتام دارند مواج عمری بخاطر پویایی و شگوفایی ادب پشتو کوشیده و آثار متعدد منثور و منظوم آفریده است.
واضح است که در برگردان یک اثر فرهنگی به ویژه شعر باید ساختار ، فرم و پشتیوانۀ کلمات بکار رفته طوری بکار گرفته شودکه با متن قابل ترجمه بیگانه گی فرهنگی نداشته باشد . در غیر آن اثرِ برگردان شده آن طوری که لازم است قابل درک نخواهد بود .
جناب مواج با آگاهی ازین رمزواره ها سروده ها را خیلی دلنشین و با امانت داری از دری به پشتو گزاریده اند .من به این باورم که آثار گرانبهای این دانشمند گرامی مانند تمام مظاهر فرهنگی دیگر محصول شرایط اجتماعی-اقتصادی و وضعیت ایدیالوژیک زمان و مکانی است که در آن نگاشته شده اند . میتوان گفت و به یقین میتوان گفت که نوشته های جناب نجم الرحمن مواج آیینۀ قدنمای زمان خودش است.
ایشان علاوه بر بیست اثر چاپ شده مانند « سرنوشت یک انسان » از شولوخوف ؛ رباعیات عمر خیام ، رباعیات امام خمینی ، رباعیات حضرت ابوالمجد مجدود بن آدم سنا یی و دیگران ، آثار ارزشمند دیگری هم دارند که آمادۀ چاپ اند . وبرخی از آثار شان در گیر ودار حوادث از جانب گرگان فرهنگخوار به آتش کشیده شده اند.
عمر شان طولانی و قلم شان پر رنگ باد !))
ښاغلي نجم الرحمن « مواج » خپل ادبي او شاعرانه افکار او تخيلات، د خپل سپيڅلي زړه هنري او ارماني پيغامونه، د هيواد او هيواد والو سره ژوره مينه، د خپل ځوريدلي ولس ستونزې او کړاوونه او د ټولنيز ژوند بيلابيل عيني او ريښتيني اړخونه په خپلو ګټورو آثارو کې په ډير ښکلي او ظريفانه ښه انځور کړي دي.
ښاغلی سيلنی چې زموږ د هيواد تکړه ليکوال، خوږ ژبی شاعر او پيژندل شوی ادبي څيره ده په خپله يو ليکنه کې د ښاغلي مواج صاحب د ادبي ستې په اړه داسي کښلي دي:
(( ښاغلی نجم الرحمن « مواج » د شعر او ادب يو پيژندل شوی اديب فرهنګي څيره او په دې ډګر کې له ستونزمنو پړاونو او کړليچو بريالی راوتلی شخصيت دی.
دا د ادبي کاروان هڅانده ساروان له کوم موديِ يې چې زه پيژنم بې ستړيا خو لالهانده مزلونه وهلي ، د غرو رغو پر لمنو ؛ دښتو او داګو کې لا هم د دې سپيڅلي کاروان جوګه ده ؛ د ادب لوی شينکي باغونه او ښارونه يې لټولي هر څه چې يې موندلي هغه يې خپلو خلکو او د فرهنګ مينه والو ته ډالی کړي دي.
وايم نوښتګر شاعر چې په ادبي ، فرهنګي ډګر کې پوخ شي د بلبلانو په ژبه پوه شي ، د بوراګانو سره همراز او هم د پتنګانو ښيګنې په ځان کې وکړي ؛ مانا دا چې ژمن شاعر که له يوې خوا د ټولنې څخه متأثر کيږي خو بيا هغه خپل نګه تاثيرات په ټولنه ښندي او که له طبعيت نه الهام اخلي بيا يې ټولنې ته ورکوي ؛ زه دا په ډاګه ويلی شم چې دا هنر او تومنه په هر چا کې نشته يواځې شاعران يې لري ؛ کله چې وايم شاعر يانې شاعر د شاعر په تولـه مانا !؟، زه هغه شاعر ته د لمريتوب حق ورکوم چې هغه روڼ انده وي « هغه به خامخا پولي ماتونکی وي ؛ هغه به له حب و بغض ؛ ريا او تظاهر خالي وي ؛ هغه به ريښتينی او پر ځان باوري وي او له ټولنيزو ناخوالو سره دښمني او خپله

عادلانه جګړه اعلانوي ؛ او په ټوله کې به ژمن شاعر وي چې له انسان او انسانیت سره مینه ولري ؛
ټولنه کې به انسان روزي او په هره موکه کې به ټولنې ته ښکلا وربخښي.
کله چې موږ د سندرغاړو ښکلو آوازنو ته غوږ نیسو او له ښکلوغږونو نه یې خوند اخلو په حقیقت
کې دهغو په زړه راښکونکو غږونو کې د شاعر د کلام اسرار دی!
پایله دا چې : موږ هغه وخت د شاعر په سپیڅلې مینه پوهیږو چې اثارو ، لیکنو او شعرونو سره یې
ژوره اشنایي ومومو نو ځکه وایم چې شاعر  له خپلو خلکو ؛ ولسونو او هیواد سره بې ساري مینه
لري  په غم یې دومره غمجن شي لکه بندي بلبل چې په نارو او چغهارو سر وي او د زړه له کومې
خپل عاطفي او انساني احساسات هر پلو ښندي خو چې د خوښۍ څرک یې د خلکو پر شونډو را
څرګند شي بیا ورته د خوشالی بدلې بولي ،
قدرمن مواج نه یواځې د عروضي ؛ آزاد او سپین شعر ویونکۍ دی بلکه د پیژندل شوو بهرنیو او
کور دننه شاعرانو د اشعارو باوري ژباړونکی او پوخ ترجمان دی دا ځکه چې دغه ادبي څیره
برسیره په پښتو – فارسي دري ، اردو په فرانسوي ژبې برلاسی لري چې دغې نړیوالې ژبې په ادبي-
فرهنګي پنځونو کې ورسره ډیره مرسته کړې ده.
اشعار یې ساده ، پاخه ، ژوراو له خوند او رنګ څخه ډک دي ؛ زه ورته روغتیا او په دې سپیڅلې
لار کې د لا ډیرو پنځونو هیله کوم . ))
ګران مواج صاحب زما نیکې هیلې او پیرزوینې ومنۍ او اجازه راکړۍ چې خپلې پوښتنې پیل کړم.
مسعود صاحب زه هم خپل سلامونه تاسو او  د ادب  درنو مینه والو ته وړاندې کوم . زه ستاسو په
خدمت کې یم.

۱- پوښتنه : تاسې له کله  راهیسې خپل استعداد او وړتیا  د شعر په هنر کې آزمویلې او په زړه پورې
خوند او رنګ مو وربښلې دی.مهرباني وکړۍ د خپلې شاعری د انګیزې او پیلامې په اړه څه
ووایاست؟
ځواب : په لومړي کې ښایي ووایم چې د شعراوریدلو له املة دشعري نړی ښکاک(جاذبه) ځان ته
ورو په ورو، جذبولم او دا زما د کورنې چاپریال له برکته وو، په دې معنا چې :
ژوندی یاد پلارمې که له یوې خوا د خپل وخت قاضي اومدرس و، له بلې خوا د پښتو او، دري
ادبیاتوسره یې خورا مینه ډیره وه او د یادو ژبو د لرغونو نوماندو شاعرانو لکه، خوشحال ختک،
رحمان بابا، حمید ماشوخیل، کاظم شیدا، اوهمداراز د شیخ مصلح الدین سعدي، حافظ شیرازي، حکیم
عمرخیام، سنایي، شمس تبریزي، مولاناجلال الدین بلخي، میرزاعبدالقادربیدل  او نورو شعري
کتابونه یې د سرخرود ولسوالی باغوانی کلي د کور په دریم  پوړکي خوندي کړي وو.
د دیني کتابونو ترلوستلو وروسته به ماته  دهمدې پښتو او دري شعري کتابونو لوست راکول  کیده.
په ورلولوستل او دیکلمه باندې به ورځ ترورځې روږد یدم.
کله چې ژوندی یاد محمد دلبر سمسور ساپی ماما  مې اوګران مشر ورور قضاوتپوه عزیزالرحمن
ممنون مشر وروړمې پر (۱۳۳۵) لمریز کلونوکې(۵۸) کاله ترمخه د کابل راډیو له لارې په
مشاعرواو ادبي بنډارونوکې ګډون کول اوما به یې شعرونه د دوی په خپلوغږونو کې د راډیو له څپو
اوریده  زما د هڅولو لپاره یوه بنستیزه زمینه برابرید له.
زما لومړنی نظم چې دري بندونه یې د جناب ممنون صاحب په قلم اصلاح شوي وو په (۱۳۳۸)
لمریز کال چاپ شو او(۵۰) افغانی حق الزحمه یې هم راته راکړشوه، ما له ډیرې خوښې دا پنځوس
ګون د رحمان بابا په دیوان کې خوندي کړاومصرف مې نکړ، آن تردې چې په کډوالی کې چیرته د
رحمان بابا دیوان اوپنځوس ګون هم رانه ترې تم شو.
کله چې په (۱۳۴۰) لمریزکال د استقلال لیسی(د پنځم ټولګي) زده کوونکی شوم اوپه ګاونډي هیواد
پاکستان کې پرسرخپوشانو(د پښتونستان خپلواکی غورځنګ) پلویانو باندې چې د پښتونستان
 ورځ  تاړاک ورځ  غورځنګ نه هیریدونکی مشرتل یاد اروابناد خان عبدالغفارخان مشرتابه پرضد
ترورځې زوراخیست، د قومونواو قبایلو مستقل ریاست ته به د پښتونستان پلوه غورځنګ خپرونی په

تیره (رهبر) چې د میرمهدي شاه مهدي په مدیریت چاپیده اوهمداشان دهغه وخت اورژبي شاعران لکه قلندرمومند، اجمل ختک، عبدالخالق خلیق، همیش خلیل، ولی محمد توفان اونورهم عصره شاعران اوافغاني ګنوشاعرانوشعرونه زه یې اغیزمنولم اوډیری وخت به مې یوڅه پنځونې لیکلې. په همدې وخت کې زما د مورمړینه چې مونږ ټولو باندې په دواړو ژبو د استادی حق لري سخت ناهیلی کړم اوشعري تنکی پوهه اواستعداد مې د مرثیې کوڅې ته مخه کړه. ډېرې مرثیې مې وویلې اود دې له پاره چې، د کورنی نورغړي مې پرې ونه ژړوم کتابچه به مې پټه ساتله، او پایله دا وه چې د سرخرود سیند نه په تېریدلوکې له دوو کتابونو سره یوځای د سروخړو اوبو په څپو کې لاهوشوه او د مرثیو په مرثیه یې واړولم.

زما د شعري قریحې اواستعداد په وده اوغوړیدلو کې استاد ممنون زما یوازنی اومهربان وروړلاربښود پاتې شوی دی. د دوی د مهرباني په اړه زما د زړه غږ د شعر پرژبه داسې دی :

مشران وروڼه به روزلي ډیرکشران وي

لابه روزي څوچې داخمکه آسمان وي

پیرزوینه به دهریو پرورو، وي

خو! د ممنون روزني ته به ټول حیران وي

۲ ـ پوښتنه : استاد ګل پا چا الفت د شعرپه اړه داسې ویلي دي :

(( شعر له زړه نه الهام اخلي اوله زړه سره کارلري ...عواطف اواحساسات چې د شاعر له زړه نه را نقل شي، شعرتری جوړشي اوپه زړونو اثرکوي... شعرته دعواطفو او احساساتو د ظهوراو د تجلیاتو کوه طورویلی شو.))

(ګل پا چا الفت،غوره نثرونه ،۱۳۳۶ کال ،۵۶ مخ )

د استاد ګل پاچا الفت صاحب د دغو خبرو پر لاسوند تاسې شعر څه ډول را پیژنئ (تعریفوئ؟)

ځواب : د شعرپه اړه هرادیبوه شاعرترخپلې وسې فرد ته منحصرنظرورااندې کوي.د تل یاد استاد الفت یادونه په دې اړه ما ته منلې ده. ځنګه چې شعر د راپنځیدلو سرچینه لري او دا سرچینه د هرشاعرله ذاتي استعداد سره طبیعي تړاولري. د ساری په توګه که په پسرلني مشاعرې کې د ګڼو شاعرانو شعر پنځونه سره پرتله شي د پسرلي ښکلا د هر یوه شاعر په شعرکې د همدغو شاعرانو له پسرلني ښکلا نه د اغېزمن کېدلوسره ذېغه په ذېغه انګازه څرګندوي.

شعرد تاریخي لرغونتوب پربنسټ د پخوانیو شاعرانو له نظره بیلابیل تعریفونه لري تردې دمه شعرته له دریو سوو نه ډیرتعریفونه ورکړشوي دي خو، دغه ادبي اعجوبه لاتر اوسه د یوه تعریف په کالب کې ځان نشي ایسارولای.

څیرنې په ګوته کوي چې شعر د انسانانو د ټولنېز، ادبي، هنري ژوند په اوږدو کې تر ټولو لرغونی ځلیز(پدیده) دی چې د لومړنیو انسانانو د ګډ کار په وخت به کارول کیده او ترینه ګټه اخیستل کیده.

د یوناني ځلاندو څیرو فیلسوفانو لکه افلاطون "جمهوریت" او ارسطو"کتاب الشعریاپویټکس" د شعرپه اړه لومړنیوکتابونو کې له دوه زره کلونونه ور ایخوا تفصیلي علمي بحثونه شوي دي. ځینې بیا آن تردې کچې د شعرپه برخه کې د تعریف ورکولو اوڅه ویلوسره، د ترکیې پیژندل شوی طنزلیکونکی حکمت داسې ویلي دي:

"شعریوې خوږغږې مرغۍ ته ورته ده چې ښایي یوازې نغموته یې غوږشو، خوهغه کسان چې د شعرد ماهیت په باب خبرې کوي دهغوخیټورو په شان دي چې د مرغۍ د آواز پرځای د هغې له غوښې سره مینه لري "سرمحقق صدیق روهی، د پښتومعاصر ادبیات، ۹ـ۱۰مخونه)

د ځینو نورپوهانوڅرګندونې :

ـ شعرد طبیعت انځوراو تقلید دی (ایتو)

ـ شعرله خپله ځانه کومه بله موخه نه لري (بودلر)

افلاتون وایې:

ـ شعریوه آسماني تحفه ده چې قاعده اواصول نه لري شعریوالهام دی.

شعرد خوشحال ختېک بابا په اند:

لکه غشی لره بویه تیز انداز
هسي شعر لره بویه سحرساز
په تور آس د حقیقت ناوی سپره کا
په سپین مخ پلونیولی د مجاز
سل جلوي سل کرشمي سل مکیزونه
په نظرکي یې ښکاره د سترګو ناز
د صنعت زیور په ځو رنګه ورپورې
د تشبه چندڼ چوه باندې طراز
د مضمون د نزاکت غمزه ور ځخه
سرتر پایه درست صورت سره یو راز

شعرد حمید بابا له نظره:
شعرنه دی دا خوناب د زخمي زړه دی
یا دستی وتلی دم د خولي د مړه دی
یا نغمه د نیم بسمل مرغه دخولي ده
یا مجنون ته معمّا ښکلی لیلی ده
یا د وینو اباسین وهلی موج دی
یا له ښاره د حیرت وتلی فوج دی

شعرد میرزا حنان له نظره:

ځو به کړې پر آس دعشق جولان د شعر
نه طی کیږي په رفتن میدان د شعر
ځو زړه چاک لکه قلم نکړې په عشق کي
په لاس نه درځي هرګز ګریوان د شعر
د زخمي زړونو خوناب نه بل ځه نه دی
ځوک چي کاندي په تکلیف سامان د شعر
فکروخیا ل د یارد خولي وایه حنانه
چی شیرین دي وي مدام دیوان د شعر

قضا وتیوه عزیزالرحمن ممنون د شعرپه اړه ځیل ادبي انګیرداسي ځرګند وي:
په زړه پورې آواز
شعرځه دی یو په زړه پورې آواز دی
د انسان د معنوي نړی اعجا ز دی
شعرحکمت او بصیرت او معرفت دی
تصوف او ریاضت اومحبت دی
هغه ځه چي ژبه نه ده پرې قادره
یوه ګرانه مرغلره ده نادره
د الهام د رڼو لیکو خوږ انځور دی
چي معنی پرې رڼا شوې هغه نوردی
د نوښت او د ابداع یوه بیلګه د ه
لویه دنده د انسا ن یي پر اوږه ده

کله چی له دي عا لمه بيګانه شي
د معنی سیپی په منځ کې د ردانه شي
د شین هسک ستورو، او سیند په ننداره شي
د منصور په څير د حق يوه ناره شي

کانت: شعرد هنر ډیرلوړشکل دی ځکه په هغه کې ایډیال انځوریدای شي. صدیق روهي. ادبی څیړنې (۱۳۶۰) لمریز کال مخونه (۵۵ـ۵۶).

۳ ــ پوښتنه : استاد پوهاند زيار د شعر د جوړښت لپاره، ژبه ، تول، واند، اند، ولوله (ژبه ، وزن، خيال، فکر، احساس يا عاطفه ) بنسټيز او ضروري توکي ګڼي. تاسي په دې اړه څه نظر لرئ، او د شاعر او شعر اغيز د يوې ټولنې د خلکو په راويښولو او د دوی د ملي احساساتو په راپارولو کی څنګه څيرئ؟

ځواب : د دکتور استاد مجاوراحمدزيار صيب د ژورې يادونې بحث ډیرپراخ دی اودا ټول اړين توکي له شعرسره ښايي.

شاعرنه يوازې د خپلې ټولنې بلکې د نړۍ د حساس اوفعال غړي په توګه چي د خپل شعري انګير په سوزنده نغرې کې سوزيږي او شعريي داسي تودوخه اوپيغام خوروي اود ټولنې حالات انځوروي فرد ته منحصر پيژندل شوی شخصيت دی. دا شاعر که د شعري ژبې په هره برخه کې خپل قلم چلوي د خپل چاپريال د ځرنګوالی انځوراخيستنه کوي اوټولنې ته يې ليږد وي.

که دسترخوشحال خان خټک د شعرسمندرڅپوته ځان وسپارو او وردننه شو د حماسي، فلسفي، ټولنيزاو د تاريخي ارزښتونو په اړه د هماغه وخت نه اخيستني انځورونه يې موږ ته قلمي ستر ميراث پريښي دي چي هريويي پرخپل ځای د ځانګړي حالاتو ازانګې دي.

يوشاعرکله چي د يوديني عالم تقوا ته په ځيرګوري اومعنوي اړخ يې له هر راز مادي ناروا غوښتنو سپيڅلي وي د ستايني شعر ورته ډالۍ کوي، خو که د تقوا په تيرايستونکې لومه کي نورساده ګان راښکيلوي بيا نو د تل ياد استاد الفت له خوا د: واوا مسلماني: شعر ورته ډالی کیږي "الفت غوره اشعار"

بيا هم د تل ياد استاد ګل پاچا الفت ادبي بحثونه "ښوک وايي (شعر) هغه موزون کلام دی چي د انسان په احساساتو اوعواطفو کي تحريک پيداکوي ځيني نور وايي هرکلام چي دغه کارکوی شي ، وزن اوقافيه ولري... هغه شعردی. ښوک وايي چي نه، ښوک بيا وايي چي نه، هرڅه چي په زړه اثرکوي اوپه انسان کي تعجب يا جوش او جذبه پيدا کوي هغه شعردی، نو د دوی په نظرکي جهان ټول شعردی، چي سرې يې د آسمان په ستورو او شفق کي د ډکو اومستو سيندونو په څپو، د ګلونواو چمنونو په رنګ او، طراوت کي د غرو په لوړو ښوکو، د آبشارونو په مستيو، د بلبلو په شور، د ښکلو په ښايسته سترګو او نازونو کي ګوري، نه يوازی دا، نه! د مهجورو او آرزومندو په اوسيلو، د دردمندو په آه وفرياد، د مظلومانو په ژړا کي هم شعري کيفيت موجود دی"

زه په خپل وارشعرته دا تعريف ورکولای شم:

شعرد شاعرد لړزيدلي انګير يوه لړزونکي اوپارونکي پنځونه ده چي اوريدونکيوته د ځو اړخيزې پاروني نه تعريفيد ونکی ځواک په برخه کوي.

د يو زمن شاعر شعري نه انکاريد ونکی اغيز پرټولنه خورا ډيردی. کله چی د نازکو سياسي، ټولنيزو حالاتو سره په ټکرکي، د اوپوزيسيوني ذهنيت لاغښتلتيا لپاره شاعر د خلکو د بسيا راټلونکی پيغام وراندی کړي داسي شعرد خلکو پرژبه روانه زمزمه خپلوي او په هره حجره او، ديره کي د ټنګ ټکورسره جوخت په ولسي بدله اوري او په حساسو زړونو خپل اغيزشيندي او پرحساس ټپ پټی لګوي.

۴ ــ پوښتنه : کاظم شيدا په خپل يو شعر کي وايي:

مضمون د شعر لکه پيکر وي
رنګين الفاظ يي رخت او زيور وي

ورته ضرور دي دا دواړه څيزه
پيکر که هر څومره دلربا تر وي

**تاسي د جولي (فورم)، منځپانګي او پيغام له پلوه د يو لوړ او ښه شعر معيارونه څه ډول ارزوئ؟**

**ځواب :** شعري کره معيارد شعرهغه پيغام دی چې د شعرمينه والو تندي ته ځواب ورکړي. شعرد يوې ځليزې(پديدی) د ستايني يا رټلو په برخه کي لوستونکيو ته د يا دې ځليزې ښيګني او بدګني په ډاګه کوي او اغېزمنتوب يي نه انکاريدونکي دی.
که شاعرد شعرمنځپانګي ته کره پاملرنه وکړي يانی نوی مضمون په زړه شعري جولی کي لوستونکيوته وړاندې کړي نه يوازی دا چې د نيوکي وړنه دی، بلکي د ستايني اوآن دا چې د پلويانو په ډيريدو يي د تقليد وړګرځي.
خو! که هرڅومره زيارهم وباسي اود شعرپه نوې جولی کي که يوه تکراري او بی خونده موضوع وځايوي دا به نه يوازې د لوستونکيو د منلو وړنه وي بلکی له ډيرو نيوکو سره به هم مخ شي.
زما په اند که د ښه شعرمعيارونو ته پام کېږي د مضمون نوی والی سره سره دې د ژبی سوچه دوديزو، وييونو کارول اود شعري جولی ته چې د ورځي له هغوغوښتنو سره چې د ملي ګټو خوندي ساتل په کي وځليږي دا به ترډيره د لوستونکيو د منلو وړ او هم د ژبي ودې ته لا زمينه برابره کړي.

**۵ ــ پوښتنه :** ويل کيږي چې د نړی ټول هنري پنځوني يا تخليقونه د ښکلا پالني تر اغيز لاندې شوي. تاسو په شعر کي ښکلا او مينه څنګه ارزوئ؟

**ځواب :** زما په اند مينه يوه دوه اړخيزه ځليزه (پديده) ده، لومړی شکلی ښه چې ډيره موقتی ښه لري اود سترګو په رپ کي تيريږي اوهيريږي، لکه په يوځاى کي د طبيعي ښکلاو ليد ل اوخيال پاريدل، موږ ډيرځلی له داسي پيښو سره مخ شوي يو چې د احساس سترګی مو پری لګيدلي ډيرخوند مو ورنه اخيستی او ورنه تيرشوي يو. دا هم دوه برخي لري يوه برخه يي دا چې د کوم آشنا او، ياهم په پردي سيمه کي يي وينو له ځان سره سوچ کوو که خپله مينه ورسره ژوره کړو کومه ګټه نه کوي ځکه چې د پردی برخی ښکلا باندی زړه بايلل ځورونکی بريښي اوکومه ګټه نه کوي، له ځان سره د کره استدلال په ملتيا له دې ځورنه ځان ژغورلاى شي.
او دوهمه يي ژوره مينه ده چې د انسان په کړو، وړو کي د روږد له امله ترسترګو کيږي. له مور، کورنۍ او، وطن سره مينه. دا هم يوه مهمه برخه يي له خپلي کورنی نه په ميراث اخلي.
اما د شعراو ښکلا بحث يوه بيله برخه ده چې دا دواړه سره د يوي سکی دوه مخونه دي چې د شعرپه ژبه هری ښکلا ته ښکلايي ارزښت ورپه برخه کوي، اوهمداسي پخپله ښکلا هم د شعرارزښت ډيروالی ته پايښت ښښي اومعنويت يي بنستيزکوي . ساری يي د پښتو لرغونو او معاصرشاعرانو په غنايي (ليريک) اوحماسي او نورو شعرونو کي ورځ ترورځي خپله اصلي بڼه څرګند وي .

**۶ ــ پوښتنه:** يو شميرشاعران او ليکوال په دې عقيده دي ، چې شعر الهام دی خو يو شمير نور وايي ، چي شعر ليکل ، رياضت او انساني تجربه ده . تاسي پکي څه واياست، مهرباني وکړئ په دې اړه خپل نظر راسره شريک کړئ؟

**ځواب:** د ادبياتو د ډګر نظروال او منلي شاعرانو تحليل اوڅيرني په کره توګه څرګندوي چې شعر د تجربی او رياضت تر څنګه الهام دی. رياضت د تجربی د لا پوخوالي اوتجربه د رياضت حوصلي لا غځوني لپاره يوه پخه وسيله ده.
د ساري په توګه، د پښتو ژبې ډيرئ استادان دي چې د شعرپه برخه تيوريکي پوهه لري اما د شعرپنځوني توان نه لري اود شعرپنځونی له پاره رياضت هم کومه اغيزه نه شي لرلای اما شعري قريحه اوشعري استعداد، د الهام په وسيله شعر راپنځوي او شعرپرته له الهامه نه شي ټوکيدای.
تردې پراو راوروسته رياضت په دې مانا چې د پېژندل شويو لرغوني او معاصرو شاعرانو شعرونه دې آن تردې کچې ولولي چې د رياضت په نوم ونومول شي اما يوازی اوتش په تشه رياضت کومه مانا نه لري اود شعري استعداد ستن پری ټينګيندلاى نه شي.

۷ ــ پوښتنه: ویل کیږي: اوسنی شعر د انځورونو شعردی. تاسي د عیني او ذهني انځورونو په اړه څه لید لرئ، او دا راته وواياست، چې دا انځورونه د شاعر په شاعری څه اغیز لري؟
ځواب: انځور(تصویر) د هرشعرپه لمن کې په یوډول نه یوډول د شاعرله استعداد سره سم راڅرګند یږي. عیني انځورهرهغه څه چې په سترګولیدل کیږي اوتولوته د لمس وړ وي د شاعر په شعرکې لکه کوم ځیزچې په هنداره کې د لیدلو وړ وي ترسترګو کیږي. د ساري په توګه:
د فصلونو په اړوند د ګران هیواد په هره سیمه کې ځینې مناسبتي مشاعرې کیږي لکه په ننګرهارکې د نارنج ګل مشاعره او، یا هم د نرګس ګل مشاعره. دلته د شاعرانو په شعري مضمون کې تول دهمدې دوو ګلانو(نارنج اونرګس ) ځانګړې کیږي.همدا شا ن د منی ګل مشاعره او داسي نور. یا هم په هیواد کې د اداري فساد له منځه وړلو په برخه د، یو ملي ذهنیت پراسا س شاعران غواړي دا ناوړه شومه ځلیزه(پدیده) وغندي دلته د شاعرانو شاعرانه ذهني تمرکز پرهغه نه انکاریدونکې عینیت راګرځي چي د ملت تام اکثریت د روا حقونو ژغورلو ته څرګندونه کوي.
خو ذهنی انځور د شاعر له شعرنه دهرچا یعنی دهرلوستونکي له توجیه سره نیغه په نیغه تړاو ګڼلای شو.
۸ ــ پوښتنه: تاسي په شعر کي تشبیه، حقیقت اومجاز، اغراق او مبالغه، استعاره او کنایه، څه ډول څیرئ؟
ځواب: د بیان علم چي د راسپیرلو معنا ورکوي او، اجزا یي د تشبه، مجاز،استعارې، کنایی او... جوړیږي.
که کوم څوک یا کوم شئ له بل چا او، یا هم له بل شي سره پرتله کړئ شي او، یا هم له کومي تاریخي پېښي سره د رواني پیښي ورته والی په شعرکې څرګند کړې شي. تشبه ګڼل کیږي . د تشبه ارکان دادي:
مشبه، مشبه به او وجهه شبه لکه:

هیڅ مې نه زده محبت که اوردی دا
په اورسوځم په رضا که زوردی دا

پورتنی بیت کې محبت مشبه دی او، اورمشبه به دی.
یا:

خبرونه دې هرکله وریږي درمرجان
له تانه شوم قربا ن

دلته د چا نان مینه ناکی خبری در، مرجان ته ورته ګڼل هغه څه دي چی د شعرخوږې ژبې نه د مینې ښکلا ننداري ته وړاندې کیږي.
تاریخی پیښي ورته ګڼل:

د یزید له ظلمه جوړه کربلا ده
وطنوالو بیا راغلي څه بلاده
(ن.م)

وطن د ظالم له ظلمه کربلا ته ورته ګڼل اود ډول ډول یرغلونو لړۍ ته بلا خطاب کول مشابهت یی هماغه ظلم اوپرانساني روا حقونوتیری دی.
کنــــــــایه :
په شعر کې کنایه د کوم چا او، یاهم د کومې سیاسي اوټولنیزې پدیدې دغندلواوستایلوته نغوته ده.
کنایه په دوه ډوله ده.
لومړی : څرګنده (واضحه) کنایه

څووهم د صبرلافی ستا په مخ کې
څوبه غرم بې هوده د شکو پري

یا:

چې حمید له عشقه اړوی ناصحه
بی هوده د شګو پړي سره غړي

یا:

نن د تیرساعت ارمان فایده نه کا
که هزار ځله غاښ کښیږد م په ورغوي
غاښ په ورغوي ایښود ل د افسوس کنایه ده.
غاښ په ورغوي ایښود ل(مکنه عنه) او، افسوس(مکنه) دي.

د وهمه پټه (خفی کنایه)

نه پټیږي عشق د صبرپه پرده کې
دعشاقو طشت لوېدلای دی له بامه
له با مه د طشت لوید ل د رسوایی کنایه ده

یا:

طبل څه لره پنها ن وهی له خلقه
دهغو چې پریوتلی طشت تربام دی
خوشا ل با با

دکنایی نوردونه هم لکه :

نژدې اولیری، صفت اوموصوفه کنایه.

استـــعــــا ره

د استعارې ډیرپخوانی تعریف جاحظ بیان کړئ دی چې د البیا ن والتبیین په کتاب کي یي داسي راوړي دي:

استعاره د یوشي نومول دي په یونوم، پرته له اصلي نوم یي. کوم چي د نوموړي څیزځای یي نیولای وي.ابن خلدون د استعارې اهمیت په با ب، شعرپراستعارې ولاړ کلام ګڼي، او یووختی اروپایي پوهانو یوازې ژبه خیا ل اواستعاره ګڼل او اروپایي وینا والو استعارې ته د مجازي تشبیهاتو ملکه ویل. د سرڅیرونکي منګل صیب یادَ ښتونو پربنسټ:

"استعاره (مستعار مجاز) په لغت کې د یوه شي امانت غوښتل دي ا و په اصطلاح کې هغه مجا ز دی چي علا قه یي تشبیه وي چي په استعا ره کې د متکلم ا صلي غرض تشبیه ده. خو د مبالغي په ډول یي وړاندي کوي لکه:

کجه کجه په نا ز درومي فهم بویه
لاندي نکړې تر قد م د مخ ما رونه

پد ي ځای کي : مخ : قرینه، زلفي د تشبیه یو طرف(هغه طرف چي ندی ذ کرشوئ) او مارونه د تشبیه بل طرف (هغه طرف چي ذکرشوی دی) د زلفو او ما رونو ترمنځ تورروا لي، اوږدوالی، پیچ وتا ب هغه شباهت دی چي علاقه یي بولي."

یا:

د خورشید ګلونه جوړه په کي لیده شي
په هرځا ی چي د مشکو شاخ سورئ وي

پد ي توګه کره خبره د استعارې په اړوند دا ده چي د شعرشکلي ا و منځپانګیزه ښکلا د استعا رې له برکته ده، ا و پرته لدې به شعر د شعر له کالبه بهر شي ا و په خپل لرلئ خوند ا و معنوي برم به له لاسه ورکړي.

دا ټول له شعرسره او په تیره بیا د شاعرله کاري تجربی اوذاتي استعداد سره نیغه په نیغه تړاو لري، که دا ټول چي د شعرلفظي اومعنوي ارزښتونه ګڼل کیږي که په شعرکې نه وي شعرد شعري ښکاک له

(جاذبی) څخه راوځي او په عادي اوبې خونده نثراوړي، مانا دا چې یاد شوي شعري لفظي اومعنوي ارزښتونه د کلام ښکلا له پاره آن په نثرکي هم کارول کیږي.

۹ ــ پوښتنه : تاسي نن سبا د جولي (فورم) له مخي د شعر کلاسیک او دودیز ځېلونه یا ډولونه لکه : دوییزه (مثنوي)، بوللـه ( قصیده)، غزل، څلوریزه (رباعي) ، درېیزه ( مثلث )، پارکی (قطعه) ... څومره اړین او ارزښتناک بولئ، که په دې اړه په لنډه توګه معلومات راکړئ؟

ځواب : زه دا یاد شوي عروضي ځیلونه د هرشاعرخوښی پورې تړلي ګنم، شاعرخپل استعدادي پنځونی ته په خپله له یادو ځیلونو نه یو یي وټاکي. برسیره پریادو ځیلونونه، غزل چې زما په اند هیڅ شاعربه یي له ویلو بې برخي پاتی نه وي په پخواني اواوسنیوشاعرانوکي ترټولو ډیر دود، دی په لنډه به د یادوځیلونو پردوه دریو یي یوڅه ولیکم.
غزل:
دغزل په برخه کي ډیرئ څیړونکي داسې نغوتي کړي دي: د ښځو په اړه خبرې اوله هغونه خوند اخیستلوته غزل وایي.
مرحوم سید تقویم الحق کاکاخیل دغزل په باره کي داسي څرګندونه کوي:
"په عربوکي یوه اصطلاح ده (غزل الکلب) یعنی سپی غزل شو.وایی کله به چي دعربو ښکاریانو خپل ښکاري سپی دهوسی د نیولو له پاره خوشی کول، داسي یوحالت به را پیښ شوچي هوسی به ستړي شوه نوربه د منډی وهلو توان ورته نه پاتی کیده اوخپل مرګ یي په خپلو سترګو لیده، وبدریده اوپه یوځانګړي اندازکي به یي سپیوته وکتل، دغه حالت به پرسپیو دومره اغیز وکړ چي بیا به دهوسی د څیري کولو خیال د دوی له مغزه ووت، ښکته سرونه به څملاستل".
په پورتنی څرګندونه کي د ښاغلي کاکاخیل مطلب له غزل څخه هغه کیفیت دی چي په مخاطب اغیزکوي اوهغه د احساس اوجذب په حالت کي له ظاهري دنیا پربله خوا، وړي. د پورتنی څرګندونی په تضمین غزل د کیفیت نوم دی اوکیفیت د مانا نومونو له ډلی څخه دي چي دهغی له پاره(جامع اومانع) تعریف نه شو راوړلئ.
دغزل لومړی بیت ته مطلع چي له دوه هم وزنه اوهم قافیه نیم بیتونوڅخه جوړیږي اووروستی بیت ته یی مقطع ویل کیږي.
څلوریزه :
څلوریزې ته په عربي کي رباعي ویل کیږي.د څلوریزې څلور متحدالوزنه نیم بیتی وي. د څلوریزې لومړی بیت مصرع او دویم بیت یي کله مصرع او کله غیرمصرع وي.
د مفهوم له پلوه په څلوریزه کي یومطلب ذکرکیږي چي په لومړي نیم بیتی کي پیلیږي او په څلورم نیم بیتی کي بشپړیږي.
ساری:

فرزند که ښه شي د سترګو نورشي
د سترګونورشي د زړه سرورشي
فرزند چي بد شي غاښ د رنځورشي
غاښ چي رنځورشي نو د انبورشي

کومه څلوریزه چي لومړی بیت یي مصرع او دویم بیت یی غیرمصرع وي داده :

پتنګ نه دی په ډیوه چي ستي نه شي
بلبل نه دی چي په ګل فریادي نه شي
زړه یي مه بوله تورکاڼی دصحرا دی
په لیدو د زخمي زړه چي زخمي نه شي

پاڼکی(قطعه):
پاڼکی د ګډونظمونو هغه ډول دی چې ټول بیتونه یې غیرمصرع وي یا په بله وینا د هربیت په دویم نیم بیتی کې یې قافیه را وړل کېږي. د قطعې ټول بیتونه متحدالوزنه وي. د دې ځیل لمنه ډیره پراخه ده اوهرډول مضمونونه په کې رانغاړل کیږي.لکه:

اندېښنه که په غره کښېږدی
غربه هم لکه ویښته کا
خوارسړی ملامت نه دی
که په غم کې ځان اوبه کا

۱۰ ـــ پوښتنه : په پښتو ادب کې کوم سبکونه شتوالی لري او د دغو سبکونو ځانګړتیاوې او اغیز د پښتو ادب د ودې، پرمختګ او پراختیا لپاره څه ډول ارزوئ؟
ځواب : په پښتو لرغوني ادب کې د خوشحا ل خان ختک بابا، رحمان بابا، حمید بابا سبکونه د یادونې وړدي. په دې مانا چې د خوشحال ختک بابا سبک ځواړخیزدی او د ټولنیزژوند کابو ټول اړخونه یې سره رانغاړلي اوله همدې کبله د نړیوالو ادب مینه والو د پاملرنې وړ او آن حیرانوونکی درناوی ورګرځیدلي دي.
د رحمان بابا (عبدالرحمن بابا) سبک یوځانګړی تصوفي اوعرفاني سبک دی چې دهغه د اراد توالو له خوا یې په لمانځنه فال لیدنه کیږي او آن خپل راتلونکي ته پری ځان ډاډه اوبسیا انګیري. ښایي ځرګنده شي چې، د سترخوشحال خا ن ختک بابا او رحمان بابا ادبی ښوونځی ډیر لیوال او پلویان لري.
دحمید بابا سبک د ده د شعري نړی نازکخیالي ده چې ځانګړی سبک یې خپل کړی دی.
زما په اند په دې برخه کې لا ډیرو ژورو څیړنوته اړتیا ده چې د پښتو لرغونی ادب او شعرسمندریز بهیر باندی پرله پسې کار وشي او، دا ویاړلئ بهیرادبي لامبوزنو ته زښته اړتیا لري.
که د شلمې پیړی شاعرانو ته د تاریخ د هماغه وخت د لره اوبره پښتونخوا شاعرانو ته کره نغوته وشي په دې باوریم چې د ډیرو شاعرانوکوم چې د ژوند له پولی اوښتي لکه ژندوی یاد ګل پاچا الفت، عبدالروف بینوا، قیام الدین خادم ، پوهاند صدیق الله رشتین چې د پښتو ادب ستوري ګڼل کیږي اوهم د استاد عبدالرحمن پژواک، سید شمس الدین مجروح، موسی شفیق، پسرلی، قلند رومند، اجمل ختک، ولی محمد طوفان او داسي نوراو، یا هم هغه شاعران چې لاه د خدای شکر د ژوند په قیده کې خوندي دي لکه استاد مولانا زین الله منلی، اکاد یمیسین سلیمان لایق، پروفیسورعبدالله بختانی خدمتګار، اکادیمیسین ډاکټر استاد مجاوراحمدزیاراو داسي نورو شاعرانو د سبک پیژندنه وشي.
په غښتلي او ویاړلي باورخپل لیکلی یادګاردرنو لوستونکیو ته پریښودلای شم چې د همدغو ویاړلو مشرانو شاعرانو د بیلابیلو سبکونو له برکته د پښتو اوسني شعري بهیر ورځ ترورځې لاپسې غوړیږي اوغځیږي.
زه هیله من یم چې د اوسني تخنیکي وسیلو( انترنیتي) نه په ګټه اخیستو د پښتو ادب لرغوني سبکونه نړی ته لا وپیږند ل شي د پښتو ادب به د نړی له سیالو ژبو سره خپله سیالي په بریمنه بڼه ترسره کړي.
۱۱ ـــ پوښتنه : ستاسو پر اند د ادبي سبک اومکتب تعریف څه دی، او یو ادبي سبک او مکتب څنګه منځ ته راځي او څنګه له منځه ځي؟ ولې په معاصره دوره کې ادبي سبک او مکتب نشته. آیا ورته کار نه دی شوی او که دا حق څوک نه لري؟
ځواب :
روش اوشیوه طرز، طریقه، اسلوب، د سبک په برخه کې چې زموږ په ادبي دودیزه افاده کې سیا ق، په مترادفه بڼه کارول کیږي. په انګلیسي ژبه ورته ستایل او په لاتین کې ورته ستایلوس وایي. د پښتو معاصرادب ستوري ژوندی یاد ګل پاچا الفت د سبک په اړه د یادونی داسې یادګار پریښئ د ی:

" سبک په رښتيني معنا سره، سپين زر ويلی کول او په  قالب کې اچول دي، مجازادبيا ن د اظهار خاص طرزته سبک وايي " د سبک يو څه مفصل تعريف  دا دئ : د ژبې د    کارولو خاصه طريقه چې د يوه ليکوال ادبي مکتب، پيريا صنف ځانګړنه وي سبک بللی شو. د سبک پيژندني په برخه کې د وييونو کارول د جملو جوړښت ډول، انځورونه اوهم د بديعي صنايو کارونه د ليکوال اوشاعرځانګړنه څرګند وي.

د سبک لرغونی تاريخ په څرګنده توګه د ارسطويي او افلاطوني معنا ترمنځ توپيررا په ګوته کوي معنا داچې : د ا رسطويي تعبيرله مخی هر ليکوال د سبک څښتن دی اماّ افلاطوني تعبير بيا سبک داسي يو ډول خصوصيت ګڼي چې خپلو غوښتنوته د څرګندولو مناسب يا، وړلارمومي. په دي توګه سبک يومثبت صفت دی چې ځينی ليکوال يې لري اوځينی ورنه بې برخې دي.

ژوندی ياد استاد محمد صد يق روهی په دې برخه کې دا سې څرګند ونه کوي:

"سبک عربی کلمه ده چې د سرو زرو او سپينو زرو، ويلی کولو او تويولوپه معنا راځي او سبيکه د زرو ټوټې ته ويل کيږي، اماّ په اصطلاح کې سبک د ويلو او ليکلو خا ص  ډول  او طرز ته ويل کيږي. د عربي د سبک په مقا بل کې اروپايا ن د (سټايل)کلمه استعما لوي، که څه هم چې د سټايل لغت د سبک په نسبت  زيا ت جامعيت او ارتوالی لري؛ ځکه چې د غربيانو (سټايل) دتولو کړو، وړو (لکه نڅا، رسم او داسي نورو)  له  پاره چې په يوه خاص او ممتازډول سره وي، استعما ليږي. د پارسو پخوانو ادباوو به د سبک پرځای فن، طرز، سياق، طريقه، شيوه، اسلوب، دا، او داسي نورې کليمی    استعما لولې، مګراوس د سبک کلمه ډيره تعميم شوې ده.

سبک د کره  کتنې اصطلاح ده، چې د ځينو په نظرنوع اود ځينو په نظر يو کل دی، چې د هغې په وسيله د افادې وصف يا ډول پيژند ل کيږي، د يوه تعريف له مخې سبک د  کلماتو هغه ترتيب ته وايي، چې په خورا ښه ډول د ليکونکي شخصيت، مفکوره او ذهني نظرڅرګند کړي."

 د سبک په اړه تيرو ځوابونو کې نغوتی  شوی دي خوبيا هم،  ويلای شم چې  سبک  د هر انسا ن د ذهني څرګندونو پايله ده چې يا يې په نثري اويا هم په شعري ژبه څرګند وي. د نومورو ليکوالو ادبي پلويا ن کله چې د هغه پرپل، پل ږدي ا و، ورو په ورو يې د له ډيرږی  د هماغه ليکوال او، يا هماغو ليکوالو په نوم  يادږي.

زما په اند کيدای شي چې يو ليکوال د ځو اړخيز ادبي شخصيت لرلو  له  کبله په نثرکې د ، يوه سبک او په شعر کې د بل سبک په کارولو کې ذاتي استعداد خپل کړي. که دا سبک د نورو وي او، يا هم د دې سبکونو بنسټګر پخپله دی وي.

د ښوونځی جوړښت  د، ورته  سبکونو د بنسټيز کيدو او د تاريخي ريښو ترغځولو را وروسته رامنځ  ته کيږي.

سرڅيرونکی محی الدين هاشمي  د خپلې يوې ليکنې په ترڅ کې په برخه کې د ادبي مکتب د جوړښت او پايښت مسّله کې د ادبي ښوونځيو په اړه داسي وايي :

 د ادبي مکتب را منځ ته کيدل، د يوې ټولنې په ټاکليو کې تاريخي، ټولنيزه  او فرهنګی شرايطو پورې اړه لري او هرمکتب د يوې ډلې اديبانو د ذوقي او فکري تمايلاتو اوګټو استازيتوب کوي نو ځکه  د تاريخ  په اوږدو کې بيلابيل ادبي جريانونه د خپلو ځانګړيو تاريخي اوټولنيزو خصلتونو په لرلو سره د بيلابيلو پرګنو، د ډله ييزو ارمانونو او ګټو د تبليغ  لپاره کاريدلي دي.

د هرادبي مکتب يا جريان ځانګړني په ادبي اثاروکې په تدريج سره څرګنديږي. هر ادبي مکتب، د پخواني يا مخکيني مکتب د نظرياتو د لړی طبيعي نتيجه ده او کله کله د هغه پرضد يو عکس العمل يا پاڅون او بغا وت دی.

نو ويلای شوو چې د هيڅ ادبي مکتب پيدايښت، جوړښت او پايښت تصادفي او ناڅاپي کارنه دی. د يو ادبي مکتب را منځ ته کوونکو، يا بنسټ ايښودونکو هم په لومړيو کې د خپل ادبي مکتب د ځانګړي کار او ادبي ارزښت له ځانګړنو څخه پوره خبرتيا نه ده لرلی  ورروسته  بيا ادبپوهانو اوکره کتونکو د څيړنو په بهيرکې د هغوی ادبي اوهنري لاری تشخيص، ادبي ارزښتونه يې ښودلي او تدوين کړي دي

اوهغه يي د يوه ځانګړي مکتب د کړنلارې په توګه اعلان کړي او دهغوی ادبي روښونه اوهدفونه يي توضيح کړي چي په نتيجه کي بيا نورو هنروالو د هغوی دې ادبي اوهنري لارې ته پام شوی، هغه يې تعقيب کړی د پياوړتيا، يا بشپړتيا پولې ته رسولی او په دې ډول يي د يوه ځانګړي ا دبي مکتب بڼه خپله کړی ده. د يادونې وړده چي ځينې ا دبي مکتبونه په لومړيو کې د نظريو او تيوريو په توګه رامنځته شوي، وروسته بيا هغه نظر يا تيورۍ نورو ليکوالو په عمل کې پلې کړي او د وخت په تيريدو سره ور څخه يو ادبي مکتب جوړشوی دی.
که څه هم د يو ادبي مکتب څرګنديدل په يوې تاريخي دوره کي پرتولنه له مسلطي او حاکمې ټولنيزی، سياسي او فرهنګي اوضاع څخه سرچينه اخلي، مګرله دې سره سره بيا هم کله کله داسي شوې دي چي په يو وخت کي بشپړ متفاوت ادبي مکتبونه په هيواد اوسيمه کي رامنځته شوي، يو د بل په څنګ کي يي وده موندلې او، له خپل منځي توپيرونو سره سره هر يوه ځان ته خپل پيروان موندلي دي چي ډيره ښه بېلګه يي په پښتو ادب کی د رحمان بابا عرفاني، تصوفي ادبي مکتب اود حميد او شيدا د نازکخيالي ادبي مکتبونه دي، چي کابو هممهالي وو اوهريوه خپل پيروان موندل.
دا چي اوس ولی سبک اومکتب نشته د تيرو دريو او څلور پيريو ټولنيزو حالاتو په توپير د شاعرانو او ليکوالو نه همغږي ده. که څه هم د رسنيو اوسني پرمختګونه ټولي پخوانی ستونزې له مينځه وړې دي او په تيره بيا شاعران اوليکوال کولای شي له بل هروخت نه په ډيره آسانی له يو بل سره اړيکه ټينګه کړي او آن دا چي د ماشينی ژباړی شونتياوی هم رامنځته شوي اوس هم که ژوندئ پاملرنه وشي د تيرو پنځو لسيزو ليکوالو لکه : ژوندی ياد پوهاند رحيم الهام، اکاديميسين سليمان لايق، ژوندی ياد استاد اجمل ختک، ژوند يادغنی خان، پوهاند داکترمجاوراحمدزيارصيب، استاد سعدالدين شپون صيب اونورو د ليکوالی سبکونه له يوڅه نژديوالی سره بيا هم يو له سره بيل دي.
دا چي د سبکونو له ورته والی سره سره ولی د کوم مکتب بڼه يي لکه اروپايي هيوادونو غوره کړی نده ؟
د دې پوښتني ځواب....
۱۲ ـ پوښتنه : ستاسي پراند نظم يا شعر او نثر څه توپير لري؟ او دا راته ووایاست، د خلکو په راويښولو او د ملي ولولو په راپارولو کي شعر زيات اغيز لري او که نثر؟ آيا تاسوهم نثرونه ليکلي دي اوکه نه؟
ځواب : نظم ؛؛؛؛ نثر يوغيرمنظوم کلام دی چي ټول انسانان خپل ورځني چارې پرې سمبا لوي او يو تر بله افهام او تفهيم ترسره کوي.
همدا شا ن په نثرليکل شوي داستانونه له تاريخي روايتو نه نيولی ترلنډ و کيسواو ټول په علمي بيلو بيلو برخوکي څيرنيزکتا بونه چي د ټولنيز ژوند روښانه هنداره جوړوي، او له برکته يي ورځ تر ورځې دا برخه لا بدايه کيږي. اطهرپرويز(ا د بځيرنه) چي ژباړنه يي څيرندوينه عاقله سادات ده داسي ليکي:
"شعر له احساساتو سره تړاو لري او دا د شعر روح دی، دلته خيا ل له احساسه پيدا کيږي اوخيا ل د شعرترټولو مهم توکی دی، خيا ل د شاعر په ذهن کي داسي پيدا کيږي لکه د شکل د سيوري په څيرله پخوا ورسره يو ځای وي."
عام خلک پدې یانی دا چي تخليقی عمل هغه دواړه په يووخت کي په خپل ځان کي سره را نغاړي تيروتنه کي دي، چي شاعرپه خيا لی نړۍ کي اوسي اوهرڅه چي ليکي هغه د اعتبار وړ نه دي او د خپلو خبرو د اثبا ت لپاره وايي، چي شاعرله هغي ژبې کار اخلي چي له ورځني ژبې سره توپيرلري، هغوی د دې پرځای چي خبرې په ساده الفاظو وکړي برعکس پخپلو خبروکي له استعاري څخه کاراخلي اود دې پرځای چي ګرامري اصول په پام کي ونيسي په عروضي دود نظمونه ليکي په داسي حال کي شاعرترټول ډيرحقيقت پال دی، د هغه په ژبه کي تصنع نشته په مصنوعي ژبه او لهجه نه بلکي په خپل ځانګړي انداز خبرې کوي.

د خلکو په راوينولو کې تاريخ په وار وار ثابته کړې ده چې شعري ژبه توره له تيکی ايستلو ته ورته ده او د بی باوروِ غورځنګونو او بيا دغورځنګونو بريا لامله ګرځيد لی ده. زموږ په وياړلي دښمن وژونکوغورځنګونوکې د ملالی دا غيرتي تلپاتي او توريالـه ناره چې :

**که په ميوند کې شهيد نشوې**

**خدايږو لاليه بې ننګی له دې سا تينه**

د شمله ورو غازيانو په متو کې د نوي زوراو ميرانې يوه داسي انګازه وپاروله چې د غليم تعرض ماتولو ته بل قيامتي تعرض رامنځته کړه او تاريخي وياړ يې افغاني غازيانو ته ور په برخه کړه چې د نړی تاريخ پوهان او تاريخ ليکونکي ورته ګوته په غاښ پاتی دي. دلته د يوې لنډی زور په هغه نا برابره جګړه کې د يوې اوږدی سياسي وينا سره هيڅ نه پرتله کيږي. ښايي په زغرده اعتراف وکړو چې د شعر اغيز د نثر په پرتله نه يوازې په رزمي چال چلند بلکې د ورځني ژوند په ټولو برخو کې ډيردی. د ساري په توګه :

**ما د رته وې پوره به يې نه کې**

**د ياراني خبرې ګراني دي ميينه**

په پورتنی لنډی کې مينه د کليمې په رښتني مانا که له خپلې مينې سره مينه وي يا هم د ديني عقيدی له پلوه چې په خوله يوه او په عمل کې بل څه وي اويا دا چې د سياست په ډګرکې له خپلې ورکړه شوې ژمنې په بله اوړي ټولوته لوست ورکوونکې ده او د کاريه پيل کې هر يوه ته د نه پښيمانی سوګند ورکوولو ته نه هيريدونکي نغوته ده. زه د نثر کومه ټولګه نه لرم اود مقالو په برخه کې مې له (۱۳۴۴) لمريزکال نه چې د استقلال ليسی د خپلو بيلوبيلو ټولګيو د ديوالي جريدو رامينځته کوولو او چلوول مسول وم، اوهم د انيس، هيواد، اصلاح، پامير په خپرونو کې مې ليکنې خپاره شويدي. بيا په پيښورکې چې له دريو مجلو(ارتقا، اقتصاد او مادرافغان) سره مې رسمي کارکاوه دالړی مې تانده ساتلی وه. همداسي د سباوون او څرک مجلی ايديتور او د رابطه مجلی (په پا رلمانی چاروکی د دولت وزارت خپرونی) بنسټ ايښيد ونکی او د تحريرغړی.

همدا رازما، په (۱۳۸۳) لمريز کال په ملی شورا کې د سلاکاری ترځنګه د افغانستان ښځوشبکی ته ) د پنځوسو فعالو ميرمنو بيوګرافي چاپ ته چمتوکړ او د نوموړي موسسی لخوا چاپ ته ورسيده.

١٣ ـ پوښتنه : که چيرې د خوشال خان خټک او رحمان بابا شعرونه ته ځانګړې پاملرنه وکړو، ښايي د شعرونو ډيرې بيلګې او خواوې يې د بڼې او محتوا له مخې توپير، ونه لري خو څه داسي خواوې او ځيزونه هم شته، چې د دوی شعرونه سره بيلوي.تاسو په دې اړه څه ليد لرئ؟

ځواب : دخوشحا ل خا ن خټک ادبي ښوونځی(مکتب) چې د خټکو په ادبي مکتب هم نومول کيږي په يوولسمه هجري پيړی کې رامنځته شو. د دې ادبي ښوونځی لارويان په لومړي سرکي پخپله د همدی ادب سالارد کورنی غړی له ځينو زامنو لکه اشرف خان هجری، عبدالقادرخان خټک، سکند رخان، صدرخان خټک او نورو ليوالانو دي.

د خوشحا ل ادبي مکتب په اړوند ځيرنوال محمد حکيم تنيوال داسي ليکي :

١ـ پښتو ادب يونوي پرمختيايي پړاوته داخليږي اود دې پړاختيا له پاره يې شعوري هڅې پيليږي.

٢ـ د مسجع او متکلف نثر پرځای ساده، روان اود خلکومحاوری ته نژدی نثر ليکنه پيليږي، او د خټکو ځانګړی ليکدود (رسم الخط) رامنځ ته کيږي.

٣ ــ په شاعرى کې حما سي، رزمي او ملي روحيه ډيره پياوړي کيږي اود پښتو له ټولنيز ژوند څخه رنګ اخلي.

۴ ــ پښتو شعرد مضمون له پلوه بشپړشو. په پخوانيو عشقی، عرفانی، وعظيه اخلاقی موضوعا تو برسيره د ټولنيز ژوند بيل بيل موضوعا ت، تاريخي پيښې، پرتوله انتقاد، د وطن اوقوم سره مينه د ده په شعرکي په پراخه پيمانه منعکس کيږي.

۵ــ پښتو ادب ته د شرقی شاعری ټول ډولونه، لکه غزل، قصيدی، رباعی، مثنوی او مربع بر سيره مسد س، مثمن ، ترکيب بند، ترجيع بند، ذوالقافيتين او نور ډولونه په پښتو شاعری کې په پراخه پيمانه رواج مومي.

۶ ـ د پښتو ملي کیسي (لکه آدم خان اودرخانی، دلي اوشهۍ) ولیکل شوې اوهم له نورو څخه ډیرې کیسی وژباړل شوې اود پښتو د قصصي او حکایوی ادب پانګه درنه شوه.
۷ ــ د دې ادبیات د موضوع د رنګارنګی اوهنري ارزښتونو له پلوه ښه بډای کيږي او د سیمی له ادبیاتو سره د سیالۍ څنګونه وهي.
۸ ـ شاعران په خپلی ژبې برسیره په فارسي ژبه هم شعر وایي.
د دې سترنامتو ویاړلي شخصیت قلمي یا د ګارونه د پښتو ژبې لپاره یو داسي بنسټ دی چې د نړیوال ادبپاهونو ورته ، درناوی کوي او د خپل دکتورا تیزسس بشپړ کړی اوکوي. د دوی د شعري سمندر مرغلرو ته په نغوته کې ښاغلی څیرندوی عبد ل ا لظاهر شکیب : د خوشال خټک اشعار د قافیې، فورم او بدیعي ښکلا له نظره ترعنوان لاندی پنډ کتاب لیکلی چې په شپږوڅپرکیو کې داسي خلاصه کیږي:
لومړی څپرکی: د موضوع پسمنظر
دویم څپرکی: د خوشا ل ادبی ژوند ته یوه کتنه
دریم څپرکی: د خوشا ل ختک د اشعارو قا فیوی اړخ
څلورم څپرکی: د خوشا ل ختک د اشعارو بیلابیل فورمونه
پینځم څپرکی: د خوشا ل ختک په اشعارو کی بدیعی ښکلا وې
شپږم څپرکی: معنوی ښکلاوې .
چې په تولیزه توګه د دې تولو ډولونو شمیر(۱۳۲) ته رسیږي او هریویې ترلنډې تبصرې وروسته د شعري مثا لونه سره توضیح شوی دي.
د یادونی وړګڼم چې د همدې معتبراثر له لومړی څپرکی نه په لنډه دا برخې درنو لوستونکو د ګتې پورته کولو لپاره وړاندی کوم :
د هند په نیمه وچه کې د خوشال مطالعه له پښتونخوا سره کابو یو وخت پیل شوې ده، علامه اقبا ل لاهوری (۱۸۷۳ یا۱۸۷۷ ــ۱۹۳۸م) لومړنی هندي عا لم دی، چې د خوشا ل خان په باب یې په انګریزي ژبه یوه مقاله لیکلی او نوم یې ورته ا یښی دی (افغا ن جنګیالی شاعرخوشا ل خان ختک) دا مقاله په حیدرآباد دکن کې د خپریدونکی (Islamic cultur ) نومې مجلې د(۱۹۲۸) زیږدیز کا ل د جولای په ګڼه کې چاپ شوې ده.
د علامه اقبا ل لاهوري د مقا لې د نشر پر کال (۱۹۲۸) زیږدیزمېرمن خدیجه بیګم فیروزالدین په پنجا ب کې پرخوشا ل خان بابا کار شروع کړ او د خپلی دوکتورا (P.H.D) تیسس یې په انګریزي ژبه د خوشا ل خان پرژوند او کارباندې لیکلی دی.
دا تیسس په خوشال خان لومړني لیکل شوی تیسس دی چې خدیجه بیګم فیروزالدین د خپل نهه کلن کړاو وروسته بشپړکړی دی. دغه تیسس په انګریزی ژبه دی،چې له انګریزي ژبې څخه پروفیسوراقبا ل نسیم ختک په ارد و ژبه ژباړلی او له اردو ژبې څخه په پښتو ژبه باندې پر کال (۲۰۰۹) زیږدیز کال ښاغلی اجمل ښکلي ژباړلي دی. دا تیسس دوې برخې لري لومړی برخه یې لس فصله لري، چې دوه یې د خان کورنی او اسلافو دي او، اته بابه بابه یې د ده پرژوند لیکلي دي، چې له زوکړې ترمړینې تول حالونه په کې راغلي دي، پټه دي پاتی نه وي، چې دغه تیسس پرخوشا ل غالبا لومړنی مستقل اثرهم دی، چې د ده د ژوند احوال په بشپړه توګه بیانوي.
علامه اقبال له دې تیسسه خبر و او مېرمن خدیجی ته یې د دې تیسس په باب مشورې هم ورکړي وې، لکه خدیجي چې د تیسس په مقدمه لیکلی دي:
" زما بله مجبوري ذاتي نوعیت لري اوهغه دا چې د خدای بخښلی سرمحمد اقبا ل سره د یوې وعدې له کبله په دې پره ووم، چې زه به د خوشال په سیاسي سرګرمیو یوباب به خپله مقاله کی ځایوم، زه امید لرم چې زما دغه ارتکاب جرم به قابل معافی وګڼل شي."
تردې وروسته بیا ډیر یو بهرنیانو د خوشال ختک پرآثارو د دکتورا تیسسونه لیکلي دي چې د پښتو ادب لپاره د ډیر ویاړځای دی اوښایي په دې برخه په خپله افغانان او د پښتو ژبی مینان نوښتګر ګامونه پورته کړي.

د رحما ن بابا تصوفی،عرفانی ادبی مکتب :
د پښتو لرغوني ادب پیاوړی اونوښتګرشاعررحمان بابا(۱۰۴۲ ــ ۱۱۲۸) لمریز منحصرفرد ته ځانګړی تصوفي، عرفاني ادبي سبک بنسټګر اوخاوند.
د رحمان بابا د کلام اغیزه په تصوفي او عرفاني نړۍ بیساری ده او آن تردې کچې چې د دې ښکاک (جاذبی) مینه وا ل یې له شعرونو نه د خوند اخیستلو برسیره د خپل ژوند راتلونکی خیر ښیګنی ته فا ل لیدنه هم کوي او په ډیره درنه سترګه ورته ګوري.
دتاریخ په اوږد وکی دیوه ادبی مکتب ښه غوره کړې ده ا ود رحمان بابا تصوفي عرفاني ښوونځی (مکتب) نوم یې خپل کړئ دی.
ښاغلي څیړنوا ل محمد حکیم تنیوال په خپل اثر(د پښتوشعرسبکونه) کې د دې ادبي مکتب د پلویانو او ادبي ځانګړني په ترا و د اسی لیکي :
د دې مکتب نومیا لي پلویان : یونس خیبري، معزالله مومند، اخوان ګدا، حافظ الپوری، میانعیم متی زی، عبدالعظیم رانیزی، عبدالرحیم هوتک، مطیع الله اونوردي. اوادبي ځانګړني:
"۱ ـــ د دې مکتب پلویا ن زیاتره د اخلاقو او نصایحو د بیان خوا ته ډیره پاملرنه کوي.
۲ ـ د تصوف او عرفا ن پیچلی مسلی په ساده، روانه، خوږه او رنګینه ژبه بیانول د دې ادبي مکتب ستره ځانګړنه ده.
۳ ـــ د عربي، پارسي ژبوکلما ت، اصطلاحات، تشبیهات او استعارې په پراخه پیمانه پښتو شاعری ته رانوتي دي.
۴ ـــ د پښتو شعر وده موند لي ا و ډیرو شاعرانو د خپلو اشعارو دیوانونه ترتیب کړي دي.
۵ ـــ په دې ادبي مکتب کې د پښتني چا پېریا ل خپل رنګونه په ځلیدو دي او دهندي سبک اغیزې په کې ډ یرې نه لید ل کیږي.
۶ ـــ د دې مکتب د پلویانو شاعرانو په ځینواشعاروکې د هنراو شاعرانه خیالونو نړۍ خپلې ځانګړني لري، انځورونه اوخیالونه یې ساده، مګرډیر ښکلي، په زړه پورې او د لوړ ادبي معیارو نه برخمن دي.
۷ ـــ د دې ادبي مکتب پلویان واقعیتونو ته ډیره پاملرنه کوي او د خیا ل پلویتوب او تابعیت په کې ډیرکم دی."
دهمدې پورتنیوځانګړنوسره ښه به وي چې ګران لوستونکي پخپله د دوارو ادبي مکتبونو په اړه د قضاوت ذهني نیلی وځغلوي او د توپیرونو پوله مشخصه کړي.
۱۴ـ پوښتنه : تاسي په شعرو ادب کې اسطوره څه ډول راپیژنئ (تعریفوئ)؟
ځواب : کله چې انسان په لرغونو زمانو کې ژوند کا وه، له اوسني ژوندانه سره ډیر توپیرلري.
ابراهیم واشقانی براهانی داسي لیکي:
اسطوره له عربي ژبې راغلي ده چې په المنجد کې داسي لولو: الاسطوره ج اساطیر: القصه والحکایه وفیها مزیج من مبتدعات الخیال والتقالید الشعبیه: چې له خیا ل او لرغونو زمانو سره ګډ والی لري.
په عربي ژبه کې اسطوره له یونانی اصل چې له انګلیسي لغت سره د یوې کورنی ګڼل کیږي د تاریخ په مانا ده.
همدا راز ښاغلي طایرځلاند په خپل اثرادب اوتجربه کې د( یویشتمی پیړی کې د اسطورې ادبي ارزښت ) ترعنوان لاندې داسي لیکي:
" په هغه وخت کی چې انسان د ښاري ژوند خواته نه وګرځیدلی اوهغه اسانتیاوی یې نه وې ترلاسه کړې چې د ژوند د پرمختګونو، ضرورتونو له پاره لازم وې، نه هم د جغرافیایی انکشافاتو سره اشنا و، خپل ژوند یې په یوه محدوده سیمه کې تیراوه، نو ذهن یې تردیره محدود اودعقلي دلایلو په نتیجه کې د راپورته کیدونکو مسایلو په پرتله یې په توهماتو یقین زیات و. هغه انسانان چې د ساینسي تجربو لیری وو دهغوی په ذهن داسي تصورات حاکم وو، چې له مخې یې د ژوند ژواک ډول اوطریقه تاکله.

په همدې وخت کې د بیلابیلو موجوداتو په اړه د هغوی په ذهن کې ځینوتصوراتو ځای نیولی و، د خامارانو (ښامارانو)، ښاپیریو د خدای، ملایکو، بزرګانو د لمر، سپوږمۍ او ځینو نورو موجوداتو په اړه یې کیسې جوړې کړې وې او په هغې ټولنې کې ورته د حقیقت په سترګه کتل کیدل، چې په واقعیت کې په هغه یوحقیقت نه بلکې د انسانې مخ پر ودې ذهن د تخیل هغه دنیا وه چې هغوی به له ځان سره تصورکوله."

بې ځایه به نه وي چې په همدی برخه کې یو اسطوریز داستان چې استعاره جوړښت یې هم د پام وړ دی کټ مټ را واخلم.

"وایې یو ځوان په خپله سیمه کې د یوخان په لورعاشق شو، خان د دې لپاره چې وګوري غوښتونکی یې څه د ول سړی دی په هغه کې شرطونه ټاکې، چې په پوره کولوسره به یې لور ورکوي. ځوان په خپلو یو شمې‌رشرطونو کامیابیږي، خود وا ده د زیاتو مصارفو ترلاسه کولو لپاره یو بل هیواد ته روانیږی، په خپل آس د یو نامعلوم ښار په لوري روانیږي او په لاره کې د ډیروسختو سره مخ کیږي، خو ښارته په رسیدلود یو ډیر عجیبه وضعیت سره مخ کیږي ټول خلک خفه وي او ښار ژورخفګان تپ کړی وي، دی له چا پوښتنه کوي، چې خلک ولی خفه دي او د خلکو د تړیرئ کید و لامل پوښتنه کوي، یو بل ځوک ورته وایي چې له څه مودې راهیسي په دې ښا رکې څه بلا روږدې شوې چې هره ورځ د دې سیمې څخه یوه پېغله دې، ښامارته راوړلی کیږي، چې کله ښامار وږی شي نو خپل ټاکلی ځای ته ځان رسوي اود کلي له خوا ورکړل شوی ډالی په خورا ښه تندي مني. که چیرته د ښا ما ر په دې شرط کې چې هره ورځ باید یوه پیغله ورته کیږي، کمې راشي نو ښامار به ټول ښاروخوري. له همدې ویرې خلک په ډیرې پاملرنې سره د ښامارشرط مني او په خپل ټاکلې وخت د کلي یوه پیغله ترښاماره رسوي.

ښارته راغلئ نوی ځوان د دې کیسې په اوریدلو حیرانیږي خو د خلکوسره یوځای په ډولی پسې روانیږي چې د دې ښارد واکمن لورښامارته وړلې کیږي. ډولی په یوځای کې کیښودل کیږي او د ښارخلک ترې بیرته په ستنه راځي.

مسافرپه هم هغه ځای کې پاتي کیږي اوورځي د ډولی خوا ته په ډولی کې ناسته پیغله چې په تنها دشته کې ځوان وګوري نوحیرانه شي، چې ټول خلک ولاړل دا ولې دلته پاتي شوئ، پیغله ځوان ته وایي چې د ښامار وخت رانږدې کیږي اوکه له دې ځایه ولاړنه شئ نوښامار به یې وخوري.ځوان پیغله له نږدې ګوري چې خورا ښکلې وي، ورته وایي چې ته بی غمه شه خو، زه ډیرزیا ت ستړی یم باید یوه شېبه دمه شم، خوچې کله ښامارراځي نوبیا مې ویښ کړه.

پیغله مسافرته وایي، چې د ښامار د راتګ نښی دا دي، چې مخکې ترې باد وباران راځي، مسافرد جینی په زنګانه سر ږدي او ویده شي، شېبې وروسته ډیرزیات تیزتوپان اوسیلی پیل شي اوبیا ورسره باران هم پیل شي. د پیغلي له سترګو اوښکې راروانې شي او د مسافرپه مخ څاڅکي تویي شي مسافر له خوبه راپورته شي او یوه شي چې اوس ښامار را رسیږي، ښاما ر له قهره تا ویږي خوځوان ته وایې چې دی باید له دې ځایه لاړشي کنه وبه یې خوري. ځوان وایي چې څو هغه ژوندی وي ښاماربه ښا ما ربه دهغې پیغلې خوړلوته پرې نږدي.

لنډه دا چې د ځوان او ښامار سره جنګ کیږي اوځوان په دې توانیږي چې ښامارپه توره نیم کړي او پېغله جینی بېرته د پلا رکورته روانه کړي.

د ښا مار په مرګ په ښارکې خوشا لې جوړه شي د ښا ر د واکمن لورهم لوره وکړي چې یواځې مسا فرځوان سره واده کوي.

د فولکلوریک داستا ن دا برخه د اسطوربې ادبیاتو یوه ښه نمونه ده، خو ممکن د اوسنې ساینسي پرمختګونو اود شعورد ودې په دې پړکې خلک د ښامار اومسافرځوان کیسې ته په ښه نظر ونه ګوري. ځکه چې اوس هرچاته معلومه شوه چې نه خوښامارشته او، نه هم د کوم ښار او ښامارترمنځ دا ډول تړه کیښودل شوې چې هره ورځ دې ورته له ښاره په ډولی کې دې یوه پېغله ورو‌ړې څوښارترې په اما ن وي.

داسمه ده چې د دا ډ ول پوښتنوکولو ګنجایش پیداکیږي،خوهغه مها ل چې کله په اسطوره کې دا ورتیا نه وي چې د وخت دغوښتنوسره دې ځان اومعنا بد له کړي د دې اسطورې تخلیق پر مها ل دقیق معلوما ت چې علت څه و چې دا ډول اسطوره تخلیق کیدله خو اوس هم دا ډول اسطورې بې معنا نه دي. په حقیقت کې د اسطوریی ادبیا تو ژبه استعاراتی وي، او په استعاراتي ژبه کې دا ورتیا اوصلاحیت وي چې هغه د وخت په تیرید و سره ځا ن ژوندی وسا تي، د بیلګې په ډ ول په پورته یا دې شوې اسطورې کې یا کړلی شوي کردارونو او، واقعاتو څخه موږ یو ډول نورې معنا وې هم اخیستلی شو.

ښا ما ر په استعاراتي جوړښتونو کې تل د شخص لپا ره استعما لیږي چې دیرظالم وي او د خلکو په حقوقو او ملکیتونو قبضه کوي. د ښا ما رد راتګ سره باد او باران کېدل او توپا ن راتګ د هغه مها ل د بحراني وضعیت استعا راتی اظهاردی چې کله د خلکوحقونه تلف شي، پیغله ورکول زموږ د ژبنیو جوړښتونو له مخې دعزت او وقار استعاره ده، زموږ په ټولنه کې ښځه د یوې کورنۍ او، یا قا م عزګنلی کیږي، کله چې د یوقام ټولنه کې ښځه د یوې کورنۍ پیغلې ته څوک په بده سترګه وګوري په حقیقت کې دهغې معنا دا ده چې حیا اوعزت یې تړې واخیست په دې اسطوره کې هم په ښا ر د ښامار روږد کیدل او بیا د ښا رد خلکو له خوا هره ورځ یوه ورځ پیغله ورکول په دې معنا ده چې خپل عزت اوغیرت له لاسه ورکوي. په دې اسطوره کې د ښامار وژنه په حقیقت کې د هغه د بغاوت نمونه ده چې د دا ډول ښامارصفته انسا ن یا ځواک څخه یې د آزادی په معنا ده اوهغه ځوان ته چې له ښاماره یې د پیغلو ژوند خلاص کړئ وي او بیا هغې سره د ښارد واکمن لورواده په حقیقت کې د ولسي درناوې ورکولواستعاراتی معنا ده. ممکن له دا ډ ول نورو اسطورڅخه لوستونکی نورې معناوې هم واخلي ځکه چې دا یو ډول استعاراتی اظهاردی، کوم چې د وخت له تیرید و سره خپلې معنا ګانې هم بدلوي. اوهمدا هغه څه دي چې په یویشتمه پیړی کې د اسطورو ادبي ارزښت روښانه کوي.

ادب چې موږ د انساني ذهن او شعوراظهارګنو نو اسطورې د انساني ذهن د نړۍ یوه رنګینه برخه ده، ځکه چې دا، د انسان حسي تجربی دي او ادب د همدا ډول تجربو د فنکارانه اظهارنوم دی.

دلته د historia اوhistori وییونه ژوندی یاد مهرداد بهارایراني له هندو اروپایي له ریښې vid د سانسکریت له کورنۍ vidya اولرغونی فارسي سره چې د پوهې په معنا ده همغږی ګڼي. په دې توګه اسطورې اصلا د بشر پیژند ګلوی لپاره د تاریخ په اوږدوکې یو ریوټ ګڼلای شو چې د ساینس science علم له پیدایښته را وراندی له څوعلمي لاربښوونو نه په ګټه اخیستو سره یې د هستی تفسیرولو لپاره کاراخیست.

په ادب اوشعر کې د اسطورې د پیښی مند په تیره لرغونو آثاروکې ډیرترسترګوکیږي.

**۱۵ ـــ پوښتنه :** لنډی په پښتني وګړني ادب کې ډیر مهم شعري او سندریز ځیل (ژانر) دی. تاسي لنډی د څومره والي، ټولیزوالي، ګرانښت و منښت له پلوه څه ډول ارزوئ؟

**ځواب :** لنډی په پښتني وګړني ادب ډیربیساری اغیزه لرلی ده اولري یئ. د لنډۍ ژبه دومره چې لنډه ده هومره هم خوږه اوهرچاته یعنی نرینه اوښځینه وته منلی او د ژبې پرسرده.

لنډی د شمیریا څومره والی له پلوه بې شمیره او د ټولیزوالی ګرانښت اومنښت له پلوه هرارخیزه او د ژوند ټولې برخی په کې ځای لري نو له همدی کبله د تاریخ په اوږدو کې د هرچا د پام اود ستاینې وړدي. څو بیلګې په لنډه توګه:

ټولنیزسلوک او د مینې اهمیت چې له دواړو لورو ښایي د همیشني پاملرنې وړ وي داسې ښکلې بلنه څرګندوي:

مینه په تلو راتلو زیاتیږي
کله راځه کله به زه درځم مینه

په پورتنی لنډی کې مینې ته د مقابل لوري هڅونی سره سره یوې پټې ادبي اخطاریې څرک هم څرګندیږي اوهغه دا چې:

مینه په تلوراتلوزیاتیږي
که ته رانشې زه هم نه درځم مینه

دا مطلب که په ساده ژبه وویل شي د ګیلی بنه غوره کوي اودوو دوستانو ترمنځ لفظي شخړې لامل ګرځي، خو د لنډۍ په خوږه ژبه د مینې ښکاک ته یوه مینه ناکه بلنه ده.

۱۶ ــ پوښتنه : تاسې د لنډیو معنوي او حماسي انځورونه او تشبیهات څه ډول ارزوئ؟ مهرباني وکړئ د دغو انځورونو او تشبیهاتو څو بیلګې را ته پر ګوته کړئ.
ځواب : لنډۍ زموږ د پښتو ادب شعري شعورکرونډې یوه بډایه او استثنایي ویاړلې، تلپا تې او لمریزه ګلورینه ځانګه ده چې د نړۍ ادبیاتو ورته برخه کې بیساری ده. لنډۍ د انساني ژوندانه تولو برخو باندې خپله ځلانده اغیزه شیندلی ده او داسې کومه برخه ورنه پاتې نده چې د لنډۍ حضور په کې نه وي.
ما نا دا چې د پیښو انځورونه که د یوې اوږدې بوللې په ژبه کیږي لنډۍ یې په خوږه اوډېره لنډه ژبه په عبرتناکه او ډیره سلیسه اغیزناکه بڼه اوریدونکیو ته وړاندې کوي.
د لنډیو تشبیها ت خورا هڅوونکې او احساس پارونکې دي تردې کچې چې هیڅ بله شعري ژبه ورسره سیالي نه شي کولای. د ساري په توګه :

جانان مې سر په وطن کیښود
په تار د زلفو به کفن ورته ګنډ مه

د زلفو په تارولی؟ آیا محبوبه یې په ډیره آرامۍ او په کړس کړس خندا له خپلو خورو زلفانو کوم تار، راشکوي او د خپل شهید یارکفن پرې ګنډئ؟ که خپلو خورو، ورو زلفانو ته چې د خپل غازي تورزن یار ته یې دغیرت په لوپته کې پته ساتلی او له یوې خوا له
ډیرې ناهیلی او له بلې خوا هم د پښتني غیرت له بشپړې مینې او درانه هیبته لاس وروړی موتی موتی یې راشکوي اوپورتنی لنډۍ د زړه له سوزه په سویو، سویو ساندو او لړزیدلي غږ نوروته اوروي چې هرضمیروال انسان له ځان سره ژړوي.
یاهم د مینې په برخه کې :

که ته مې روغ لیونی نکړې
بیا مې د بنګو پیاله مه بوله مینه

دا ژوره تشبیه په دومره ساده، روانه اواغیزمنه بڼه پرته د لنډۍ له جولی په شعري بله جولۍ کې خوندوره نه بریښي اوناشوني ده.
یا هم په تولنیزه غچ اخیستونکې بڼه :

ځوانانو پاځئ توره واخلئ
په وطن جنګ دی غلیما ن راغلي دینه

یا:
دغلیم مخ په سکاره تورکړئ
چپه یې سپورکړئ چې سرتیتی ځي مینه
یاهم:
غلیم ته داسې ماتي ورکړئ
چې ور په یاد شي ځان سره توبی کوینه
زه وایم:
ما د لنډیو زرین تا ل کی
وزنګوئ چې مې جنت په برخه شینه
۱۷ــ پوښتنه : په لنډیو کې د نورو تشبیهاتو تر څنګ د بیلابیلو ګلونو تشبیهات ځانګړې ځای لري، چې ډیر ساده خو هنرمندانه پر کار اچول شوې دي. تاسې د دې لامل دک او دلیل څنګه ارزوئ؟

ځواب : ګل د طبیعت یو ډیره زړه را ښکونکې او د ښکلا ستره بیلګه ده چې د هرانسان او په تیره د هرشاعراوهنري ذوق پارونی لپاره کوډ ګره ښکاک لري. دا چې د ګلانو تړاو له لنډیو سره به څه

وي، دا يوه طبيعي خبره ده چي لنډۍ د تاريخ په اوږدو کي د غوره او لړزيدلي احساساتو ترجماني کوي او په تيره بيا د کوچياني ژوند سره ډيره نژدې اړيکه لري، اوهم له بلې خوا په پښتني ادب کي هر ښه او د منلو کار، ګل ته ورته بولي لکه: احمد ، ګل سړی دی، ګل کارديِ وکه يعنی سم کاردې وکه (وکړ). د خدای پاماني په وخت وايي: مخ ته دې زيري ګلونه او داسی نور.
څنګه چي ګل يوه طبيعي مينه ناکه اوښکلې هستي ګڼلای شو د همدې مينې له کبله په پښتوکي ډيری نومونه لکه : ګل ولی، ګل علم ، ګل خان او همدا راز ښځينه نومونه : ګلمکی، ګلالی، ګلانه، ګل غوتی، ګلپانه ، ګل لښته اونور. همدا راز په سوونو لنډۍ لرو چي له ګل سره ښکلاييزه اوډنه لري لکه:

ګل مې په لاس درته ولاړيم
يا ګل مې واخله يا رخصت راکه مينه

يا:
ګل مې په ګل خوله ګل ته خاندي
ګلغوتی شونډي يې پرګلو ناز کوينه

ياهم په ګلانو د خپل ذوق ګل ته مينه ناکه رتبه ورکول:

ګلا ب له اصله شهزاده دی
رامبيل چا مبيل يي نوکران نيولي دينه
په با غ کي مه ګرځه دلبره
ګلاب شرميږي مخ په پانو پټوينه

په پای کي ښايي ووايم چي له ګل سره تشبيه کول دغوره دوستی، مينې ، درناوي اونه هيريدونکی معنوي ارزښتناکي خاطرې يادونه ده چي د ژوند مادي اړخ ته سمبوليکه ناتوراليستي ښکلا په برخه کوي، دا پدې چي انسان پخپله د طبيعت په لمن کي زيږيدلای اوله طبيعت سره يې مينه تلپاتی ده نو ځکه لنډۍ پخپل وار د شعري هرې بلې څانګې نه په ډيره لوړه کچه له ګل او بيا په تيره له ګل سره چم ګاونډ يا تيږي او د ګلبوټي له يوه ښاخه د ګل په ستاينه کي د زړه حال په شاعرانه انداز د طبيعت مينانو او ليوالو ته ډالی کوي.
۱۸ ـــ پوښتنه : په پښتو ادب کي د متلونو په برخه کې څه ليد لرئ، اوپښتو متلونه د نورو ژبو په پرتله څه ډول ارزوئ؟ آيا تاسو په خپلو شعرونو کي له متلونوڅخه هم ګټه اخيستی ده او که نه؟ که مو اخيستی ده نو اغيز يې پر خپلو شعرونو څه ډول څيرئ؟

ځواب: زما په اند متلونه کټ مټ له لنډيوسره په غوره او لنډ ه وينا له لنډيوسره ډيرورته والی لري، پدې ما نا اوتوپير چي لنډۍ په شعري ژبه اومتلونه په نثري بيا نوي. لکه :
چي هلته نه کا ر، هلته څه کار...
که همدا لنډه او ګنډه خبره توضيح کړې شي يوه لويه بيانيه ترې جوړيږي. خو، که د نورو ژبو متلونه را واخلو د ما نا له پلوه به زموږ له متلونو سره ورته والی ولري. لکه ، فرانسوی متل : l،amour chaud se refroid vite يعنی توده مينه ژرسړيږي. اوموږهم وايوچي توده يې مه خوره. مانا يې دا ده چي په هرکارکي حوصله اوسوچ کول ګټوردي او ښايي د هرکارسرته رسول په متانت وشي چي پايله يې پښيماني رامنځته نکړي.
پايله به داوي چي متل په هرژبه کي د هرې ټولنې د کړو، وړو اوفرهنګي څانګرتياوسره سره اصلی منخپانګه يي کابو ورته پيغام لري اولامل يې همدا ده چي انساني ټولنيز ژوند د نړۍ په ګوټ، ګوټ کي ډيرې شريکي ريښې لري اوهرومرو به د ژبې په واسطه په يو ډول نه يو ډول له يوې ټولنې و بلی ته لار مومي.

۱۹ ـ پوښتنه : یو شمیر شاعرانو او لیکوالو د خپلو څیړنیزو اونوښتکرو کارونو او فعالیتونو لپاره د بهرنیو لیکوالو آثاراو شعرونه ژباړلي دي. ستاسي پر اند د بهرنیو آثارو ژباړه او یا زموږ د آثارو ژباړه په نورو ژبو کې د پښتو ادب و فرهنگ د ودې او پرمختګ لپاره څه اغیز ښندلای شي؟ او دا راته وویاست چې تاسي پکې ونډه اخېستې ده او که نه ؟

ځواب: انساني ټولنه اړینه ګڼي چې د یوبل پر ژبه سم پوه شي اود خپل هم نوع له ټولنیز، ادبي ، سیاسي، اقتصادي، پوځي او... اود ژوندانه له هراړخیزسلوک نه خبرشي. دا خبریدل یوازې او یوازې د تش په نامه خبریدلو په مانا، نه بلکې د نورو ټولنو له نویو پراختیایي لاس ته راوړنو نه د خپلې ټولنې د ځانګړیو شرایطو سره سم، سمه ګټه ترلاسه کول دي.
کوم هیوادونه چې دفرهنګي ودې شونتیا لري د نویوعلمي پرمختګونو نه چاج اخیستل د سمدم راژباړلو په وسیله ترسره کوي. د ادبیاتو په برخه چې د ټولو علومو ناموس ګڼل کیږي ټوله نړۍ لوړاو ګټورګامونه پورته کړي دي او دا هڅه چې د ژوند توفاني سمندر له څپوسره غوټه خوړلې ده خپل پایښت ساتي.
که د نړۍ وپښوملتونو له رخی پرته د حضرت سنایی بلخی، رحمان بابا، خوشحال خان ختک، مولاناجلال الدین محمدبلخی، د خیام رباعی ګانی او داسي سلګونه نور شاعرانو شعرونه په خپلو ژباړلی دي زموږ لرغوني شاعرانو لکه... عبدالقادرختک د شیخ الاجل مصلح الدین سعدي ګلستان (ګلدسته) په پښتوشعر راژباړلی. په همدي توګه ډیر نور ګټور آثار په پښتو خوږه ژبه راژباړل شوي دي.
ماهم ترخپلي وسې دا، آثار ژباړلي او لیکلي دي:
لومړی: چاپ شوي
۱ _ سود به چلاویک (لیکوال: میخاییل شولوخوف. دري ژباړه: سرنوشت یک انسان (دیوه انسان برخلیک)
۲ _ د حکیم عمرخیام د (۲۲۳) رباعی ګانو ژباړه: دری ځلی چا پ شوي ده.
۳ _ د امام خمینی د رباعی ګانو پشتو ژباړه.
۴ _ورد (2000) په پشتو.
۵ _ورد (2003) په پشتو.
۶ _اکسل په پشتو.
۷ _ویندوز په پشتو.
۸ _اکسس په پشتو.
۹ _لیک لیکنه. ژباړه
۱۱ _ د نصرالدین فکاهی ګانی پشتو انګلیسی.
۱۱ _ د نړې له څلورو کونجونونه طنزونه.
۱۲ _ نوی لیک لیکنه. تا لیف
۱۳ _ د ښځو حقونو په برخه کې (تالیف).
۱۴ ـ awn د اَفغانستان ښځو شبکې ته سیاسي ټولنېز لکچر نوټ لیکنه
۱۵ ـ د اتلانو اتل د اثر عبدالرحمن عزام اثر پښتو ژباړه.
۱۶ _ د پیغمبرانو داستانونه.
۱۷ـ د حضرت ابوالمجد مجدود بن آدم سنا یی څلوریزې.
۱۸ـ د مولانا میرزا عبدالقادربیدل (۱۳۵) څلوریزی . (ترچا پ لاندی)
۱۹ ـ شعر یوله نه پیژ ني د، نهو شاعرانو د څلوریزو ژبا ړه.
نا چاپ آثار:
۱ _ پشتو شعر دوه ټولګی.
۲ _ دری شعر یوه ټولګه

۳ ـ د استاد خلیل الله خلیلي د رباعي ګا نو ژباړه
۴_ د جا پا ني شاعرانو (۳۸) ترانو ژباړه چي د ښاغلي برنا کریمي په مټ په د ري ژبا ړل شوي.
۵_ د محمد فقیر فروزي پنجشیر د رباعی ګانو ژباړه
۶_ دستهای کثیف اثر ژان پل سارتر فرانسوي به دري برګرداني شده.
۷_ د رحمان با با، خوشحال خټک، حمیدمومند او نور ګن شمیر شاعرانو بیتونو ژباړه په دري.
۸_ د افسر رهبین(۱۹) مرثیی دهند سمندرسونامی په اړوند پښتو ژباړه.
۹_ د جاپاني اوومي اولسمي پیری شعرونه چي داکتربرنا کریمي په دري راژباړلي دي.
۱۰_ د نورو ګڼو شاعرانو شعرونه په پښتو.
سوزیدلي آثار:
۱_ دمولا نا جلال الدین بلخی (۱۱۰۰) دوه بیزې.
۲_ د تولستوی(رستاخیز) اثر ژباړه.
۳_ د ژانلافیت اثر(هغوی چي ژوندي دي)
۴_ د ژانلافیت اثر(بیرته راګرځو د نسرین ګلونه راټولوو)
په پښتوژبه راژباړلي او دا، ادبی لارمي دژوند ملګرې کړې ده.
څوکاله ترمخه مي د افغانستان له پخواني ولسمشر حامد کرزی نه دګڼو نورو لیکوالو سره یو ځای د میرمسجدی خان فرهنګي لوړه درجه مدال او تقدیرنامه ترلاسه کړه.

۲۰ ـ پوښتنه : ښاغلی صدیق کاوون طوفاني چي زموږ دهیواد یو پیاوړی او نوښتګر شاعر او پیژندل شوی ادبي شخصیت دی ، د استاد زیار د علمي او ادبي شخصیت په اړه په خپله یوه لیکنه کي داسي وایي:
(....زیار صیب د خپلو نورو سترو کارونو تر څنګ، د نویو ژبپوهنیزو او ادبپوهنیزو لارو چارو په د ود ونه کي خورا ډېر زیار ایستلی او له بي شمېره ستونزو سره یي مبارزه کړې ده.
په اوسنی پښتو ژبه کي د ښاغلي ډاکټر زیار د قلم له برکته اوس اوس یو زیات شمېر داسي لغتونه اوګړني استعمالیږي چي څو کاله مخکي چا اورېدلي هم نه وي او پر ځای یي د نورو ژبو له تورو او لغتونو څخه کار اخیستل کېده...)
د کاوون صاحب د خبرو پرلاسوند تاسي په پښتو ادب کي او په تیره بیا په شعر کي د ژبي پوخوالي، سوچوالي، قوت او بیان، فصاحت او بلاغت، میرنتوب او حیا، دروندوالي او سپیڅلتیا څه ډول ارزوئ؟

ځواب: د پښتو ادب معاصربیساری څیرونکی، شاعر، لیکوال اوکره کتونکی اود پښتودرني ژبي د پایښت او، ودې نه ستوماتیدونکی ژمن مین د پښتو ادب هرمعاصر لیکوال باندي د څلورو لسیزو را پدی خوا د استاذۍ حق لري، چي ز ه ورته د اوږد عمراو سوکاله ژوند هیله کوم.
ربنتیا خبره او نه هیریدونکی واقعیت دا دئ چي استاد زیارد ډ برزیارګاللو له کبله د پښتو ژبي د هیرشویو وییونو(لغتونو) د بیا راژوندي کولو لپاره د بیا او کره کارولو لارهواره کړه.
لومړی دا چي دا وییونه یي په څومره زیارترلاسه کړي، څومره چي مي حافظه کارکوي له (۱۳۴۵لمریز) پنځه څلويښتمو کلونو نه نژدې سیمو ته د یوعادي موټر سایکل نه اویا هم نژدې او لیری ولایتونو ته د لینی موټرونو نه په ګټه اخیستو د کوچیانو کیږدیو نه به د پښتوسوچه وییونو ته د ادب کچکول نیولای وو، اوهمدا ده چي د خپلو ګڼو نور نوښتګرو کارونو له برکته یي وکولای شو چي د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځی پښتو څانګه کي د پښتو، نګه لرغوني وییونو کارول او دودلو له پاره ګتوری هلي ځلي وکړي چي دهمدې اغیزمن اوپرله پسي کار پایله یي نه یوازې د افغانستان په اوسني روان ادبي بهیربلکي د کډوالی په ډیرولانجمنواو ترخو شرایطوکي که پیښوروو اویا بل کوم ځای خپلي وړانګی وشیندلي او د لا غځوني له پاره یي زمینه برابروله او پایله یي د نویو پښتو

وييونو كارول او خپرول په ورځپانو، راډيوګانو، تلويزيونو اوګنوکورني او بهرني رسنيوکي په ورځني چلند اوښتی او ورځ  تر ورځی د پرمختګ پړاوونه وهي. زه په دې پوره با ورې يم کله چې فضيلتمآب جناب اکاديمسين داکتر استاد زيارصاحب خپرندويو ارګانونو که ځريزوی يا انځوريزاو يا هم ګنومجلواو ورځپاڼوکي د پښتوهغه وييونه کارول شوي وي ووينې لکه هغه زيارکښ اوهڅاند مليارچي په  بازار کې د خپل د لاس کرلي ګلان ويني چې لاس په لاس خرڅيږي او بازاريې ښه تود، دی که څه هم چې مادې ګټه يې ورته نه رسيږي له ډيرې خوښۍ به يې څه ويا ړلی حا ل وي. ما لا ډيرمخکې دا دوه څلوريزې  ورته ډالی کړې وې:

زيارصاحب ته

د زيار، زيار پښتو ته ورکړه غځونه
ځيرتيا غواړي هره برخه کې ښننه
پښتو ژبې ته يې برخه بيا ښکلا کړه
د، نګــــه وييــــونو بې‌رته کارونه
*****
زيارپشاني که پښتو ژبې لپاره
په پښتو که نورهم ونيسي دا لاره
وبه مومي تللی برم دغه ژبه
بيت نيکه دعا کې پورونه موند لاره

زه خپله د يوې ليکنې يا شعر پوخوالی د خپلې مورنۍ ژبې سوچه وييونو کارولو کې وينم چې د فصاحت اوبلاغت، درنښت سپيڅلتيا، حيا اوميرنتوب څرګندولوله پاره نه يوازنې بيلګه بلکې د نورو همغږو روزنې ته ښه اونه هيريدونکی  لوست ګڼلای شم، ما په خپل وار د پښتوژبې زده کړې له پاره په خپل اثر: نوې ليک ليکنه : کې داسې ليکلي دي:"  مورنۍ ژبه ده هرچا لره ګرانه

وپوښتي که له ماشوم بوډا له ځوانه
مثالونه يې دوه ورد قناعت دي
ښايي زده شي له قرآن وله آذانه

په خواشيني سره ښايي ووايم چې د پښتو ژبې د لا ودې له پاره د افغانستان د علومو اکاديمی او نه هم بله داسې کومه فرهنګي ټولنه ترسترګوکيږي چې په دې لارکې هڅاند او پرله پسې کار وکړي. د دې نا غيرتيا اصلي لامل د مادي اړتياوو، نه شونتيا او د لوړ پوړو چارواکو د پوره مرستی نشتون دی، هيله ده د د ې ستونزی د هواری لپاره د ملی مسووليت په پاملرلو سره نوی چلند غوره شي. که په دې برخه کې بهرنې روان ادبي بهيرونه له يو بل سره په همغږۍ کې وکولای شي اوسنی د ستايلو وړهڅو ته لا زور ورکړي، او د، نګه وييونو د کارولو له پاره دې کارنده  ګام پورته کړي ادا لړۍ به د ډيرو ګټورو کارونو ترسره کولو جوګه  شي.

٢١ ـ پوښتنه : تاسې په اوسنيو سياسي، تاريخي او کړکيچنوحالاتو کې په هيواد کې د ننه او له وطن څخه  بهر د شعراو ليکوالی وضعيت څرنګه څيرئ، شاعرانو او ليکوالو ته په دې اړه څه وړانديزونه لرئ؟

ځواب: زما په اند د هيواد په اوسني کړکيچن حالت کې سره له ډيرو، ورځنيو ناخوالو سره سره د شعراو ليکوالی بهير ورځ  تر ورځې زور اخلي، لاملونه يې د بيان آزادي او د خپرونو ډيروالی دی اوهمدا راز له انترنيتي پاڼو نه دا پته لګيږي چې له هيواده بهرهم قلموال د خپل قلمي رسالت ترسره کولو له پاره ترروسی کارکوي اولاس ترزنې ناست نه دي.

٢٢ــ پوښتنه : ستاسو پيغام د يو شاعر، ليکوال په توګه هغه ځوانانو ته، چې په هيواد کې د ننه او بهر د ادبي اوفرهنګي فعاليتونو سره بوخت دي څه دی؟

ځواب: زما پيغام دغوځوانانو ته چې د زړه سوي له کبله ورته د باروتو، جګړې او ناورينو نوپښت (نسل) وايم دادی :
ـ ترڅو خپله زده کړه يې بشپړه نه وي (لېترلږه ليسانس) ترلاسه کړي نه وي کوم سياسي تشکيل ته، که څه هم پلاريې د ګوند مشروي زړه ښه نکړي.
ـ د مسلکی زده کړې ترڅنګ دې مورنې ژبې ودې له پاره له هرې منطقي وسيلې نه ګټه پورته کړي.
کوم ځوانان اوکومې پيغلې چې د شعر ويلو قريحه او د ليکلو استعداد لري که په کورد ننه يا له هيواده بهراوسيږي هيله من يم چې د خپل ذاتي استعداد د لا غوړولو له پاره دې نه ستړي کيدونکي هلې ځلې وکړي.
ښايې داهلې ځلې دوی ته يوڅه ستريا ور پيښه کړي او زغم يې تر ډيره ګران وي، خو زموږ د مشرانو څيرونکيو له تجربی نه دې خپله تجربه پخه کړي، د پيژندل شويو شاعرانو آثاردې ولولي او د روان شعري بهيرله استازيو سره دې خپله اړيکه ټينګه وساتي اود ادبي کره کتنې له نظروالو کره کتنې ته په ژوره پام وکړي او خپل شعرونه دې کره کتنې ته وړاندې کړي.

که کوم ځوان د کره کتنې په بهيرکې د خپلې ليکنې عيبونو شميرلو توان ونه لري او ځان له ماتې سره مخ ويني او بيا قلم ته لاس ورنه وړي دا به يې د خپل استعداد ځوانيمرګول وي.

ګران او قدرمن مواج صاحب ستاسو نه د زړه له کومې مننه کوم چې زما پوښتنو ته مو پوره او کره ځوابونه راکړل .

په ډيره مينه او مننه :
انجنير عبدالقادر « مسعود »

ستاسو ګران او منلي دوست او د ادب او فرهنګ تاند او هڅاند مينه وال ښاغلي مسعود صاحب څخه هم د زړه له کومي مننه کوم.
په بشپړه ادبي فرهنګي مينه :
نجم الرحمن « مواج »

به صفحه اصلی – www.said-afghani.org